# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤۲۲ ګڼه / پنجشنبه ۲۵ رمضان‌الکریم ۱٤٤۵ هـ.ق / ۱٦ حمل ۱٤۰۳ هـ.ش / ۰٤ اپریل ۲۰۲٤ میلادي


اوقات افطار و سحر به افق کابل

افطار: ٦:۱۹

سحر: ٤:۱۱

## اسلامي امارت د روسیې تازه اقدام ستایلی

د اسلامي امارت چارواکو د روسیې د هغې پرېکړې هرکلی کړی چې غواړي د اسلامي امارت د ځینو مشرانو نومونه له تور لېست څخه وباسي. دوی وایي چې د روسیې دغه کړنه د دواړو هېوادونو په ګټه ده.د اسلامي امارت ویاند ذبیح‌الله مجاهد رسنیو ته ویلي ، د روسیې دغه پرېکړه به د دواړو هېوادونو ترمنځ په سیاسي او اقتصادي مسایلو مثبت اغېز ولري.«دا د دواړو هېوادونو ترمنځ باور رامنځ ته کوي او په اقتصادي او یو شمېر نورو برخو کې به هم مثبت اغیز ولري. همدارنګه یو مثبت پیغام به ولري او له نورو هېوادونو هم غواړو چې ورته ګامونه پورته کړي. اسلامي امارت د یوه ملت استازیتوب کوي او یو داسې حرکت دی چې د خپل هېواد د ازادۍ لپاره رامنځ ته شوی دی.»تاس خبري اژانس د روسیې چارواکو له قوله لیکي چې د دغه هېواد بهرنیو چارو وزارت د اسلامي امارت په اړه غور ... ۷مخ

## کمیسیون تدارکات ملی قرارداد ۲۴ پروژه را منظور کرد



به ریاست ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست الوزرا دیروز کمیسیون تدارکات ملی قراردادهای ۲٤ پروژه را به ارزش حدود ۱۱ میلیارد افغانی منظور کرد. دفتر مطبوعاتی معاونیت اقتصادی ریاست الوزرا با ارسال خبرنامه یی به آژانس باختر نگاشته است: طبق اجندا، در جلسه نوبتی کمیسیون تدارکات ملی ۲۹ پروژه برای بحث ارائه شد، از آن جمله قرارداد ۲٤ پروژه منظور، قرارداد چهار پروژه لغو و در مورد قرارداد یک پروژه به کمیته تعیین شده وظیفه سپرده شد، تا موضوع ... ص۷

حنفي:

## خلکو ته خدمت کول د اسلامي امارت دنده ده



د ریاست الوزرا اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي پرون د پکتیکا له مرستیال والي مولوي مخدوم عبدالسلام سعادت او د بغلان ولایت له یو شمېر دیني عالمانو او مخورو سره وکتل. په دې کتنه کې د پکتیکا مرستیال والي د یاد ولایت د ټولنیز، اقتصادي او امنیتي وضعیت او همداراز د ځایي ادارو د فعالیتونو او کړنو په اړه معلومات ورکړل او ویې ویل، چې پکتیکا کې د اسلامي امارت مسوولین شپه او ورځ خلکو ته د خدمتونو وړاندې کولو او امنیت تأمین لپاره هلې ځلې کوي. نوموړي همداراز په دې ولایت کې ښوونې او روزنې، روغتیا، برېښنا رسولو او د انکشافي پروژو پلي کولو ته د اسلامي امارت د مسوولینو د ځانګړې پاملرنې غوښتنه وکړه. ورته مهال مولوي عبدالسلام حنفي د پکتیکا مرستیال والي او د بغلان ولایت ... ۷مخ

وزارت زراعت:

## چکدم‌های ساخته شده در شماری از ولایت‌ها پُر از آب شده‌اند



وزارت زراعت، آب‌یاری و مال‌داری می‌گوید، مطابق هدایت عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله چکدم‌های ساخته‌شده از سوی این وزارت در ولایت‌های مختلف افغانستان، اکنون پُر از آب شده‌اند. این وزارت افزوده‌است؛ مطابق به هدایت عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله کار ساخت ۱۳۸ چکدم به‌هزینه ۴۱۴ میلیون افغانی در ده ولایت ( اروزگان، کندهار، تخار، جوزجان، بدخشان، ننگرهار، لغمان، فاریاب، بامیان ... ص۷


۲ لگام رژیم صهیونیست را با تدبیر باید گرفت

٦ جنگ اسرائیل و حماس: فهرست رویدادهای مهم

۵ فرهنګي مبارزه کې د تقدس سرچینې


## پاسپورت ریاست نږدې دوه میلیارده افغانۍ عواید راټول کړي




شریعت: په افغانستان کې د پاسپورټونو د اخیستلو لړۍ چټکه شوې چې د افغانستان اسلامي امارت د هېوادوالو غوښتنو ته په کتلو پاسپورټونه وېشلي دي او د دوی غوښتنې یې پر ځای کړي دي. د افغانستان د پاسپورت ریاست ویاند نورالله پتمن ... ۷مخ

## جاپان له افغانستان سره ۶۰۰زره امریکایي ډالر مرسته کړې

د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداري اوچا په روان ۲۰۲۴ میلادي کال کې د افغانستان له بشري صندوق سره د جاپان د ۶۰۰ زره ... ۷مخ



## وردګو کې د «مجاهد» په نوم ملي موزیم جوړ شو

د میدان وردک ولایتي چارواکي وایي چې په دغه ولایت کې د لومړي ځل لپاره موزیم پرانیستل شو، چې تراوسه ورته په لسګونو لرغوني او پوځي توکي راټول شوي دي. د دغه ولایت د اطلاعاتو او کلتور رییس ویلي، دغه موزیم د ولسونو له تود هرکلي سره مخ شوی او په خپلو کورونو کې ساتلي لرغوني توکي د لرغوني فرهنګي میراث خوندیتوب په موخه ملي موزیم ته سپاري چې تراوسه ورته تر سل ... ۷مخ

سرمقاله

## له خپلواکۍ وروسته زموږ لویه نیمګړتیا

افغان ولس په جګړه کې زښته ډېره مېړانه او شجاعت لري، همدا وجه ده،چې که د هر څومره ځواکمن یرغلګر تر اشغال لاندې راشي،نو په لږه موده کې ځان ترې خلاصولی شي. خو بل لور ته بیا په کور د ننه همېشه له یو داسې دښمن سره مخ دی،چې هم د دنیا او آخرت خواري ده او هم یې په دنیا کې په تکراري ډول له ګڼو ستونزو سره مخ کولی شي.

زموږ دا نیمګړتیا ناپوهي او د علمي کچې ټیټوالی دی، دا سره له دې چې ښایي موږ د هېواد په ګوټ ګوټ زرګونه جوماتونه، مدرسې، ښوونځي او سلګونه پوهنځي او جامعات هم لرو خو بیا خپله د همدې مراکزو علمي سویه مو تر دې کچې کمزورې ده چې د مدرسې وال مو د خپلې مدرسې لوحه سمه نه شي لیکلی او د زیاترو مکتبیانو مو خپل لمونځ او قرآن سم نه وي زده له خانقاوو مو د ځینو صوفیانو داسې ویناوې خپرېږي،چې نورو مسلمانو علماؤ ته مو شرمنده کړي، د مدرسو فارغان او فاضلان مو زیاتره نه قرآن سم لوستلی شي او نه په عربي دوه خبرې لیکلی او ویلی شي، انجنیران، ډاکټران، نظامیان او صنعتکاران مو همداسې در واخله،څکه خو موږ له دې پلوه خورا سختو ستونزو سره مخ یو، که څه هم د اسلامي امارت مشران دا ګردې ستونزې او نیمګړتیاوې ویني، ښه یې ورته پام دی او د له منځه وړو لپاره یې ټول سخت ارمانجن دي،خو مطلب مو دا دی،چې دا هدف ترلاسه کول یو عمومي اشر غواړي. په دې مانا،چې باید د حکومت ټولې اداري خپلو اړوندو څانګو او ټول چارواکي تر خپله وسه ډېر فکر وکړي، نوښتونه او داسې اقدامات وکړي،چې زموږ دا مسلمان پاک زړی او مجاهد ملت له دغو ورپېښو ستونزو ژر تر ژره راووځي.

په دې لړ کې ټول افغان ملت مکلف دی هغه که حکومت دی او که رعیت باید د خپل احساس له مخې د خپل کړېدلي او ځورېدلی ولس د علمي، ثقافتي او مسلکي کچې د لوړوالي ... ۷مخ

## بیش از ۱۵۰هزار تذکره در ولایت هلمند در سال گذشته توزیع شده است



شریعت: اداره ملی احصایه و معلومات با پخش گزارشی از ریاست احصائیه و معلومات ولایت هلمند گفته است که در سال ۱۴۰۲ خورشیدی در مجموع برای نزدیک به ۱۵۶ هزار تن تذکره توزیع نموداند که شامل ۱۰۵ هزار و ۱۵۱ تذکره الکترونیکی و ۵۰ هزار و ۷۵۰ تذکره کاغذی می‌گردد. این اداره به نقل از محمدربانی حاجی هیواد رئیس احصائیه و معلومات ولایت هلمند می‌گوید که روزانه حدود ۱۸۰۰ متقاضی به دفاتر این ریاست برای دریافت خدمات مربوط به تذکره الکترونیکی و کاغذی مراجعه می‌نمایند. به نقل از آقای حاجی هیواد : شمول مرکز در ۱۸ ولسوالی این ولایت نیز دفترهای مربوطه فعال بوده و در سال گذشته از طریق آن توانسته ... ص۷

## پکتیا کې د ۲ رغنیزو پروژو چارې پیل شوې



د پکتیا محلي مسوولان وایي چې د دغه ولایت په مرکز ګردېز ښار کې د ۹۵زره امریکایي ډالرو په ارزښت د دوو رغنیزو پروژو چارې پیل شوې دي.یادې پروژې د مرکز ګردېز ښار اړوند دریمې او څلورمې ناحیو کې پیل شوې چې د یوه کانال او استنادي دیوال رغول پکې شامل دي.د ګردېز ښاروال مولوي سیدنظیم مزمل رسنیو ته ویلي، دې پروژو کې به د ښار دریمې ناحیې اړوند کوچي بازار کې د (۴۸۰۰۰) امریکایي ډالرو په لګښت د ۱۷۰ متره په اوږدوالي د استنادي دیوال او یوه لوی پلچک جوړ شي.د نوموړي په وینا، څلورمه ناحیه ... ۷مخ

رییس اداره ملی ستندرد :

## روند واردات اموال با کیفیت از ترکمنستان به کشور رو به بهبود است

رییس اداره ملی ستندرد در دیدار با سفیر ترکمنستان گفت: روند واردات اموال با کیفیت از ترکمنستان رو به بهبود است.دفتر مطبوعاتی اداره ملی ستندرد با نشر این خبر گفته است: ملا فیض الله تمیم رییس آن اداره با خواجه عوضوف سفیر ترکمنستان ... ص۷



# د ځوانانو ګډ روژه ماتی او ناندریز بحثونه!

**سعید غلجی**

ورمه ورځ په خوست ولایت کې د زرګونو ځوانانو له خوا ګډ روژه ماتی تر سره شو، ظاهراً د دوی شعار دا ؤ چې د یووالي په موخه ګډ روژه ماتی ترسره کوي.

خو بل پلو ته ځینو پخوانیو مدني فعالانو په یاد ګډ روژه ماتي کې د خپلو شومو اهدافو هڅه وکړه، د یاد روژه ماتي له لارې یې یو ځل بیا د نجونو د مکاتبو خلاصولو خبره راپورته کړه او دغه راز یاد روژه ماتي ته یې یو شمېر نجونې هم راغوښتې وې، چې د هغوی په لاس یې خلکو ته د روژه ماتي خواړه ورکول، خپل مجلس یې پرې رنګه کړی ؤ او یادو مدني فعالانو ګډ تصویرونه هم ورسره واخیستل.

د ګډ روژه ماتي په یاد پروګرام کې د نجونو ګډون په ټولنیزو رسنیو کې د هېوادوالو تر منځ ناندرۍ راپورته کړې. اکثره متدینو ځوانانو او مبارزینو د مدني فعالانو دغه عمل وغانده او دا کار یې د خپلو دیني او ملي ارزښتونو خلاف وګاڼه، خو یو شمېر نورو ځوانانو په ډېره بد اخلاقۍ یادو مبارزینو ته بد رد وویل او ان هغوی یې پر جنسي فقر تورن کړل، ځکه د دوی په وینا؛ یادې نجونې کوچنۍ او معصومې دي، هغه حد ته نه دي رسېدلې چې تاسې یې د ګډون مخالفت وکړئ.

خو راځئ په سړو مغزو فکر وکړو، چې د ځوانانو په ګډ روژه ماتي کې د نجونو ګډون ښه عمل ؤ، که بد او ایا زموږ له دیني او ملي ارزښتونو سره مناسب ؤ، که نه!؟

نو حقیقت دا دی، چې یاد پروګرام «د ځوانانو ګډ روژه ماتي» تر نامه لاندې جوړ شوی ؤ، نو اول خو دا چې په یاد روژه ماتي کې مطلق د ښځینه ذات ګډون هیڅ معقول او مناسب نه دی، ځکه دا د ښځینه ؤ روژه ماتی نه ؤ.

بیا که دوی وایي چې یادې نجونې خو تر اوسه د بلوغ عمر ته نه وې رسېدلې، نو چې د بلوغ عمر ته نه وي رسېدلې، بیا یې له روژه ماتي سره څه!؟

یعنې د ځوانانو د ګډ روژه ماتي په پروګرام کې د یادو نجونو ګډون هیڅکله نه ؤ مناسب، لومړی خو دا چې روژه ماتی د نارینه وو ؤ، دوهم دا چې یادې نجونې خو لا د بلوغ عمر ته نه وې رسېدلې، نو بیا یې له روژه ماتي سره څه؟ روژه ماتی خو د هغو خلکو کار دی، چې روژه پرې فرض وي. بیا له مدني فعالانو سره تصویرونو اخیستلو ته یې څه ضرورت او د دوی په لاس ځوانانو ته د خوړو ورکولو څه ضرورت؟

البته؛ یادې نجونې خو دومره وړې هم نه وې، چې بیخي حساب پرې ونه شي، ځکه که د بلوغ حد ته نه وې رسېدلې، نو د مراهقت حد ته خو رسېدلې وې. په تصویرونو کې ښکاري، چې د قد له مخې نه وې کوچنۍ، خو عمرونه یې کم وو، تقریباً د یادو مدني فعالانو تر اوږو پورې وې.

نو پایله دا، چې په غونډو کې د استقبال او تزین لپاره د نجونو راوستل او له هغوی سره تصویرونه اخیستل سراسر زموږ د دیني او ملي ارزښتونو خلاف کار دی.

عجیبه خو دا ده، چې دغه ډول خلک یو خوا د ښځو د حقوقو نارې وهي او بل خوا له ښځو څخه د تزین، تجارت او ساتیري استفاده کوي. دوی د ښځو هغه درونډ او عزتمند مقام ګواښي او په مختلفو نومونو د هغوی عزت لیلاموي.

ووایاست، هغوی سره د ښځو د حقوقو او عزت خبره مناسبه ده، چې وایي د ښځو حیا او حیثیت دې خوندي پاتې شي او که هغوی چې له نجونو او ښځو څخه په استقبال، تزین، تجارتي کمپاینونو او بالآخره خپلو نفسي خواهشاتو کې استفاده کوي او هڅه یې دا وي، چې په یو ډول نجونې او ښځې له کورونو راوباسي او خپلې سترګې پرې یخې کړي.

که موږ د دوی په شان له جنسي فقر سره مخ وای، خو باید موږ د یاد کار ملاتړ کړی وای، خو نه!، خبره برعکس ده، هغوی یې له کوره را ایستلو او تصویرونو اخیستلو ته بهانې لټوي او موږ یې حجاب، حیا او عزت ته تشویقوو.

ټولنیزو رسنیو کې هغه ځوانان هم وګورئ چې په یاد پروګرام کې د نجونو د ګډون مخالفت کوي او د هغو ځوانانو دینداري هم وګورئ چې د نجونو د راوتلو او ځوانانو سره یې د اختلاط ملاتړ کوي. درته معلومه به شي، چې آیا دوی رښتیا دومره پاک زړي دي، چې د یادو نجونو له امله موږ پر جنسي فقر تورنوي؟ بلکې اصلي فقیران همدوی دي، چې د نجونو او ښځو د راوتلو ارمانجن دي.

اصلاً دا د تېر رژیم رواج ؤ، چې په مختلفو نومونو به یې نجونې او ښځې له کورونو را ایستلې او د خپلو موخو لپاره یې ترې کار اخیست، نو دا ځل هم هماغو مدني فعالانو د خپل رواج له مخې د «روژه ماتي» مقدس نوم څخه استفاده وکړه.

ټاکل شوې وه، چې پکتیا کې هم هماغه شان ګډ روژه ماتی تر سره شي، خو د پکتیا د اطلاعاتو او کلتور ریاست د مشرانو په حکم وار دمخه ګډ روژه ماتی لغو اعلان کړ او ویې ویل چې یاد خواړه به پر بې وزله هېوادوالو تقسیم کړي.

خو بندول یې حل لاره نه ده، بلکې د ګډ روژه ماتي دایرول هم یو مثبت کار دی، البته اصلاحات دې پکې رامنځته کړي. مثلاً د نجونو راوستل دې منع کړي او پر ځای دې یاد روژه ماتي ته علماء او داعیان دعوت کړي، تر څو له یاد فرصت څخه د یووالي تر څنګ د دعوت په ډګر کې هم ښه استفاده وشي او خپل پیغام تر خلکو ورسول شي. نو په دې توګه به د چا تر دروازې نیوکو لاندې هم نه راځو او د هغوی دسیسه به مو هم بیرته پر خپله ګټه راڅرخولې وي.

# لگام رژیم صهیونیست را با تدبیر باید گرفت

**احمد**



اوضـاع کنونـی جهانی در مسـیری در حرکت اسـت که جزء سناریو سـازان جهانی،دیگر هیچ کشـور و سیاسـت مدار از آن آگاهی ندارد. هر چند اسـتکبار جهانی با دنبـال نمودن اهداف و سناریوهایی از قبل طرح شـده خود، در مرحله ی نخسـت، موفقیت مقطعی داشته است، اما به گواهی تاریخ ادامه و به درازا کشـیدن اوضاع پر تشـنج و تحمیلی با گذشـت اندک زمانی، دامن طراحان را نیز گرفته است که در آن صورت هیچ اقدامی، کارا واقع نشده است.

نبرد رژیم صهیونیستی علیه مردم فلسطین جزء از این سناریوهای اسـت که توسط اسکتبار جهانی طرح و امروز به منصه اجرا قرار گرفته اسـت.

هـر چند جنایات و مجازات رژیم صهیونیسـتی اسـرائیل علیه مردم بی دفاع فلسـطین از سالیان درازی ادامه داشـت، امـا بعـد از ۷اکتوبر این مجـازات و جنایات به اخیر خط رسـید و مردم فلسـطین مجور شدند تا دست به سلاح ببرند که دسـت به سلاح بردن و به جنگ تحمیلی کشیدن فلسـطینیان؛ برای رژیم صهیونیسـتی، فرصتی را مسـاعد کرد تا دسـت به جنایات ضد بشری و تخریب کامل سـرزمین غزه بزنـد، زیرا حامیان رژیم خون آشـام از موجودیت جوانان با انگیزه و حماسـه آفرین در فلسـطین، هراس داشتند و از اینـرو سـالهای درازی در پـی بهانه و تحقق اهـداف راهبردی خـود د راین منطقـه بودند، امـا هیچگاهی، این چنین فکـر نکرده بودند که مجاهدین فلسـطین، رژیم صهیونیست و حامیان جهانی اش را در غزه زمین گیر می کند، پرسـتیژ سیاسـی ونظامی شـان را به خاک یک سان می نمایند. لگام گسـیختگی رژیم سـفاک اسرائیل و حمله بر غیـر نظامیان آن هم بـر صف آنانی کـه به خاطر گرفتن لقمه نانـی در انتظار بودند، مورد هدف قرار میگیرند از یکسـو عمق جنایات رژیم غاصب بر مسـلمانان را نشـان می دهد و از طـرف هم ناکامی و ضعـف حکومت نتانیاهو را بـه نمایش می گذارد، امـا موضوع به این جا خلاصه نمی شـود، جنون زمامداران رژیم سفاک اسـرائیل و عدم توجه کشـورهای اسـلامی به جنایات ضد بشـری این رژیـم، امروز کار را به جای کشیده که این رژیم می خواهد منطقه را به آشوپ بکشاند، اما با تأسف که سران کشورهای مطـرح اسـلامی نظاره گـر و تماشـاچی این وضعیت اند و هنوز هم بر طبل اختلافات خودی می کوبند.

روز دوشـنبه رژیم صهیونیستی با تمام بی شرمی کنسـلگری جمهوری اسـلامی ایران در دمشق را مـورد حمله موشـکی قرار داد کـه در نتیجه این حملـه شـماری از مستشـاران نظامی این کشـور شهید شـدند و این حمله سـبب شد تا شـورای امنیت سـازمان ملل متحد جلسه یی را دایر نماینـد، هر چند امریکا، فرانسـه و بریتانیا از محکـوم کردن رژیم صهیونیسـتی خود داری کردند، اما نمایندگان چین، روسیه و الجزیره این حملـه را نقض صریح حاکمیت ملی سـوریه و ایران دانستند و تاکید کردند که مطابق کنوانسیون ۱۹۶۳ باید مصؤنیت دیپلماتیک کارمندان سفارت ها مورد احترام قرار گیرد.

وزارت امور خارجه امارت اسلامی افغانستان نیز حمله رژیم صهیونیسـتی بر کنسلگری جمهوری اسـلامی ایران در دمشق پایتخت سـوریه را با شـدید ترین الفاظ تقبیح واین جنایات را نقض صریح نورم های دیپلماتیـک و اقدامی تحریک آمیز برای گسترش نا امنی در منطقه دانسته است.

امارت اسـلامی از کشورهای تأثیر گذار جهان و منطقه می خواهد تا جلـو جنایات این رژیم در غزه و فراتر از آن را بگیرند.

بنابرین حالا زمان آن فرارسـیده تا کشـورهای اسـلامی مشـکلات ذات البینی را کنار گذاشته، منحیث یک مسلمان در پهلوی هم قرار گیرند به این جنایات و قلدری های رژیم صهیونیسـتی و حامیان جهانی اش از طریق راه های دیپلوماتیک، تحریم های اقتصادی و فشـارهای که در دست دارنـد، مشـترکاً نقطـه پایان گذارند و سـران کشـورهای اسـلامی نیز بدانند کـه رمز قدرت مؤمن، کمک گرفتن از ایمان، نادیدن گرفتن دنیا، اجتناب از شـهوات و شـوق به شهادت و عشق به بهشت است.

قران و سیرت نبی (ص) دو نیروی بزرگ هستند کـه می تواند، شـعله ی حماسـه و ایمان را در جهان اسـلام بر افرازند و علیـه عصر جاهلیت و یکه تازی های بی مورد رژیم صهیونیسـتی و حامیانش، انقلاب بس بزرگ پدید آورند.

# د مدینې پر لور

**اتمه برخه - لیکوال: سید ابوالحسن ندوي رحمه الله - ژباړن: محمدصادق طارق**

اقبال وایي: اسلامي امت چې په تېر وخت کې اتل ؤ اوس د اتلولۍ له نوم څخه بېګانه دی؛ زړه یې د دنیا د غلوونکي رنګ، بوی او مظهر په جال کې راښکیل دی او غوږونو یې له شادې موسیقۍ سره عادت شوي، اقبال همدغه موسیقي او نغمه د غوماشې ږغ نومولې ده او وایي:

**دل خود را اسیر رنگ و بو کرد**
**تهی از ذوق و شوق آرزو کرد**
**صفیر شاهبازان کم شناسد**
**که گوشش با طنین پشه خو کرد**

وروسته وایي: د امت په سترګو کې د یقین نور او په زړه کې یې د مبین خدای د محبت شور نشته او د وصال او حضور له خوند څخه بیګانه دی.

**به چشم او نه نور و نی سرور است**
**نه دل سینه‌ی او نا صبور است**
**خـدا آن امتی را یار بادا**
**که مرگ او ز جان بی‌حضور است**

وروسته د امت له شوکت څخه هغه ډکه دوره یادوي چې د الله تعالی ځانګړی لطف او عنایت پرې شامل ؤ او له اوسني غمجن حالت سره یې توپیر په ګوته کوي او وایي: امت داسې مارغه ته ورته دی چې یو چا په لاس روزلی او تل یې میوه ورکړې وي اوس ورته درنه تمامېږي چې په دښتونو کې د رزق په لټه سرګردان وي.

**مپرس از من که احوالش چه سان است**
**زمینش بد گهر چون آسمان است**
**بر آن مرغی که پروردی به انجیر**
**تلاش دانه در صحرا گران است**

اقبال له دینه د تېښتې فتنه ذکر کوي چې اسلامي نړۍ په کې راښکیل ده او هغه (چې د فلسفې، سیاست او اقتصاد علومو خورا پوخ استاد دی) ښه پوهېږي چې د همدې بې دینۍ لاملونه تشې مادي نظریې، روحي خلاء او مرفه ژوندون دی چې ګڼ شمېر خلک پکې راګیر دي. هغه معتقد دی چې د همدې بې دینۍ او مادي اقتصادي فلسفې سره یوازینې د مقابلې لار د هغسې ژوندون غوره کول دي چې پر مینې او زهد ولاړ وي کټ مټ لکه د حضرت ابوبکر صدیق ژوند. هغه د مسلمانانو لپاره د داسې ژوند غوښتنه لري چې سراسر مینه او زهد وي. رښتیا هم که داسې ژوندون رامنځته شي خلک به یې په ورین تندي ومني.

**دگرگون کرد لادینی جهان را**
**ز آثار بدن گفتند جان را**
**از آن فقری که با صدیق دادی**
**به‌شوری آور این آسوده‌جان را**

هغه د مسلمانانو د انحطاط لامل نیستي او مادي کمزورتیا نه ګڼي بلکې په سینو کې یې د اور مړه کیدنه د همدې ناورین د علت په توګه یادوي او وایي: «همدا نښتمن (د اسلام لومړي مسلمانان) تر څو چې په یوه صف کې څنګ تر څنګ د الله تعالی حضور ته ولاړ وه او یوازې یې خپل رب ته سجدې کولې د پاچاهانو ګریوانونه به یې شکول خو ...»

**فقیران تا به مسجد صف کشیدند**
**گریبان شهنشاهان دریدند**
**چون آن آتش درون سینه افسرد**
**مسلمانان به درگاهان خزیدند**

نور بیا

# تعصب، تبعیض او نیشنلېزم

**حیا ت الله حلیم**



دا یو ښکاره حقیقت دی چې تعصب یا عصبیت د ځینو انسانانو په وجود کې یوه داسې ناوړه پدیده ده چې پیل کې د دنیوي امورو په چوکاټ کې د دغه کسانو په وجود کې د غوړونو او سترګو له لارې د داسې مسایلو د لیدلو او اورېدلو له لارې را منځ ته کېږي چې له دوی پرته بل چاته د منلو نه وي، تعصب او نیشنلېزم معنوي صبغه نلري نو ځکه د مسلمانانو ترمنځ د الهي احکامو په رڼا کې مردود او ناروا بلل شوي، مسلمانان یوازې د تقوا پربنا یو پر بل فوقیت لري نه د نسب، قوم، سیمې، ژبې او نورو ملحوضاتو له مخې، د عصبیت او نیشنلېزم عامل هغه څوک ګڼل کېدای شي چې عقدې یې اخستې وي نو ځکه کړنې او اعمال یې ټول د الله ج له قانون سر مخالف او مغایر وي، تعصب اکثره د کبر، غرور او لویې غوښتنې له وجې د یو شمېر کسانو په وجود کې را پیدا کېږي او ترڅنګ یې په خپله خوا پورې د نورو کسانو د نه منلو احساس هم ورسره را منځ ته کېږي، ځکه متعصب ته ځان د ځینو ملحوضاتو پر بنا په نورو لوړ ښکاري ، پورته ټول مسایل د الله تعالی له سخت وعید سره مخ او الله پاک پرې ناراضه کېږي ځکه د الله تعالی نورو بندګانو ته ترې خطر متوجې دی ، د دې کسانو شخصي خواص به ځای پرېږدو بلکې د دې مردودې پدیدې ریښه به را وسپړو چې څنګه د مغرضو او متعصبو کسانو لخوا د نورو صادقو او ساده کسانو ذهن ته د قومي ، سیمه ییزو او ژبني مشترکاتو له وجې په ډېره خوږه ژبه او فوق العاده نرمۍ سره ور ترزیق کېږي او ورو، ورو پرمختګ کوي څو د ملت په پیکر کې رخنه وکړي او د یوه ټولنیز سرطان په توګه د ټولنې د اشخاصو ترمنځ را ځرګند او ټولنه له نابودۍ سره مخ کړي ، په افغانستان کې روسانو د قومونو ترمنځ د تعصب تفرقې او نسبي لحاظ د اعلی او ادنا ، اصیل او کم اصل مفکوره د یو شمېر نادان کسانو ذهن ته ور ترزیق کړه او هغه یې د خپلو پاشل شویو ماینونو په څېر چې اوس هم له افغانانو قرباني اخلي د نیشنلېزم قرباني کړل او څو چې دنیا ودانه او روانه وي دا بدبختۍ به د افغانانو دامنګیره وي ، خو له نیکه مرغه د اسلامي امارت په حاکمېدو سره د دغه منکراتو مخه اوس نیول شوې که څه هم د نړۍ په تاریخ کې یې یو شمېر هېوادونه له داسې بربادۍ او نابودۍ سره مخ کړي چې بیا هېڅکله پرېښو نه دي دربدلي.

تعصب او عصبیت زیاتره د نیشنلیستانو په وجود کې را ځرګندېږي خوتبلیغات چې ورسره ملګري شي سرعت یې یو په لس زیاتېږي ځکه د تبلیغاتو له لارې دومره خطرناک او ژر سرایت کوي لکه دیوه انسان وجود چې په ایډز ناروغي اخته کېږي ، یوازې د یو ځل لپاره کفایت کوي چې دیوه رند ، مفتن او متعصب له خولې هغه کسان چې دغه مفتن قومي او لساني مشترکات ورسره لري ، ذهنیت یې په منفي لوري واړول شي ، بیا هم دغه ټکي ته اشاره کووچې د تاریخ په اوږدوکې لیدل شوي چې ځینې ملتونه د نیشنلستۍ پوچو شعارونو او وروسته یې د تطبیق له وجې د ټولنیزې نابودۍ سره مخ شوي، په پورته بدبختیو کې ساده اکثریت او رند اقلیت لوړ اهمیت لري ځکه هرڅوک د داسې چا خولې ته غوږ نیسي چې چالاک ، چابک اوخوله ور وي ، اورېدونکي هېڅکله په دې پسې نه ګرځي هغه څه یې چې د دغه رند له خولې واورېدل اخروي ګټه یې پکې شته او که دغه مفتن د خپلو ناوړه موخو په محور څرخولی دی ، ځکه په پیل کې د متعصب نیشنلستي شعارونه مترقي اوخوږه بڼه لري او د نیشنلیستي ګټو په پوره سپېڅلتیا دا شعارونه پورته کېږي خوپه پای کې داسې وخت هم را ځي چې همدغه ساده قشردومره تیرایستل شوی وي او وروسته په دې پوهېږي چې په دوی یوازې سیاسي سوداګري شوې ده .

په افغانستان کې لنډ تېرتاریخ او تجربو وښودله چې له ساده او صادقو خلکو سره څه وشول او څنګه د دوی سپېڅلې ارادې د یو شمېرځان غوښتونکو د شخصي ګټو پرمحور وڅرخېدې؟ اوکله چې هدف ترلاسه شو نوله هغه کسانو سره چې له دوی سره په ناروا کې ګډې شوي و، څه معامله وشوه ؟

موږ ولیدل چې د نیشنلیستي احساساتو پربنا را منځ ته شوی تعصب چې وروسته په قوي او بې رحمه [تبعیض] هم بدل شو څومره خطرناکې پایلې درلودې؟ خو بیا هم له نیکه مرغه چې اوس وینوچې هرقوم ته منسوب عام ولسونه بیا هم په افغانستان کې موجود اوهوسا ژوند لري اوهغه رند کسان چې په یوه اوبل نامه یې دوی تېر ایستلي وو لازمه ده چې په هر ډول شرایطو کې عام ولس خپله تګلاره په خپله تشخیص اوپه هغه لاره روان شي چې خپله نیک مرغي او د الله ج خوښه په کې نغښتې وي ، باطل له منځه تلونکی دی او کوږ بار هېڅکله تر هدف پورې نه رسېږي ، ولیدل شول چې د نیشنلېزم په روحیه جوړ حکومتونه د خپل مقصود ترسر منزل پورې ونه رسېدل ځکه موخې یې نا مقدسې وې او هرڅه یې د الله د رضا خلاف پرمخ روان کړي وو، دا ثابت حقیقت دی چې د افغان ولس منځ کې کفار نشته ، ټول د الله پاک مخلص بندګان دي،خو د اشغال پرمهال د مسلمان نما کړیو له خوا داسې معامله ورسره وشوه لکه کټ مټ چې اوس د اسرائیل لخوا له فلسطینیانو سره کېږي، تاریخ خوبدل اوسرچپه نه لیکل کېږي اونه په تاریخ سلیقوي تاریخ لیکل څوک قبلوي ، له هغه څه به د افغانستان تاریخ پانه جوړېږي کوم چې په حقیقت په تېرکې واقع شوي وي ، اشغال او استعمار ته هېڅوک روا ښه نشي ورکولای اونه د تېروشلوکلونو په ترڅ کې اعمال شوي حرکات د چا په نیکي او سرلوړۍ دلالت کولای شي، څو چې دنیا ودانه ده د تیرو ناخوالو عاملین به د ذلالت او شرمندګۍ سرکوزی ژوند تېروي فکر کوم داسې څوک به اوس نه وي چې د خپل ذهن له مخې دښه او بد تشخیص ونشي کړای .

خبره له اصلي مسیره کږه نشي، د تعصب پربنا د رامنځ ته شوي نیشنلېزم د لید زاویه ډېره تنګه وي خو د ځان لپاره ډېرې پراخه جبهې جوړې کړې وي،خو په حقیقت او عملکرد کې د دې شومې پدېدې قربانیان بېرته هغه ساده اوصادق مخلوق وي چې د بل په خوله یې په دې نامقدسه جبهو کې برخه اخیستې وي، د خپلو خبرو په وروستیو کې دغه ټکي ته په اشارې سره وایو چې په مجموع کې د دې ټولو ناروغیو د درملنې لپاره یو اصل موجود دی چې هغه عبارت له اسلامي اصولو څخه دی چې هرقوم ته منسوب افغانان د الله پاک د دین په رسۍ ځانونه ونښلوي اوخپل ژوند د اسلامي اصولو په چوکات کې عیار اوپرمخ یوسي ځکه په اسلام کې د هرچا فردي او ټولنیزې ګټې اوغوښتنې خوندي دي او هم یې د آخرت ګټه په کې نغښتې ده که چېرې الله مه کې یو څوک د نیشنلېزم په کږه لار روان شول نه یوازې خپل ځان ته به زیان اړوي بلکې اخرت به یې هم له زیان او خسران سره مخ وي ، ځکه په افغانستان کې د حق د لارې لارویان د نیشنلېزم د لارویانو په پرتله زیات دي.

# د ښاروالیو له خوا ښاریانو ته د عامه خدمتونو میکانېزم

**خالقیار احمدزی**

هېواد کې یو له مهمو او هغو خدماتي ادارو څخه چې خلک ورته ډېرې سترګې لري، هغه د ښاروالیو یا ښاري خدماتو وړاندې کوونکی اداري واحدونه دي، چې دنده یې د ښار ښکلا، نظافت او له نورو اداراتو سره په همغږۍ په ښار کې دننه د بنسټیزو پروژو مخته وړل دي.

دا چې په تېر کې دغه اداري واحدونه ښاریانو ته د چوپړونو پر ځای، تر ډېره د فساد، غصب او مالیاتو په نوم د خلکو د شوکونې او باجګیري مراکز وه او اداري کارمندانو یې یوازې د یوې مړۍ ډوډۍ موندلو لپاره کاري بستونه ډک کړي وه، نو هغه وه،چې کابل او نورو ولایتي ښارونو کې تر ډېره کارونه هم تر سره نه شول او د ښاري نظم او ښکلا په برخه کې هغه مهمې پروژې چې باید کار پرې شوی وای، د ا.ا.ا تر راتګ پورې معطل پاتې شوې.

خو بالمقابل، له کله چې نوی حکومت (ا.ا.ا) قائم شوی، د دغې ادارې مربوطه مسؤلین تر خپلې کاري لایحې هم څو قدمه مخته تللي او په مرکز او ولایاتو کې یې د خپلې بودیجې په محوطه کې ټول توان کړی چې خلکو ته ارزنده او با کیفیته اړین خدمات وړاندې کړي.

هو! ښاروالۍ اوس د بې ځایه باج اخیستنې، اختلاس او نورو درغلیو مراکز نه، بلکې په تېرو دوو کلنو کې یې د یوې داسې. ګ اداري نوم خپل کړی، چې ګواکې په ښار کې د ټولو ارزښتمنو چوپړونو مخته وړونکې اداره همدغه ارګان دی؛ د مالیاتو راټولونې چارې یې د ځانګړي میکانیزم پر اساس، د منظم بانکي سیستم له لارې مخته ځي چې د درغلیو هیڅ امکان په کې نه تر سترګو کېږي او خپل مصارف هم د تر لاسه کېدونکو عوایدو پر ځای، د مالیې وزارت لخوا د ځانګړې منظورې شوې بودیجې څخه کوي. دغه راز له همغږو دخیلو اداراتو سره په ګډه د پروژو په مخته وړلو او آن طرحه ریزي کې مشورې کوي او چارې یې د یوه شفاف میکانېزم پر اساس مخته وړل کېږي.

خو له دې ټولو سره سره یو لړ نورې داسې خبرې هم شته، که د یادو اداراتو مسؤلین ورته پاملرنه زیاته کړي، ممکن خدماتي بهیر یې پراخ او کاري چوپړونو یې هم اغېزمن رول لوبولی وي.

هغه وړاندیزونه او خبرې چې زه یې د یوه ځوان په صفت له یادې خدماتي ادارې د پوره کېدو هیله لرم، دلته یې واضح کوم.

_که د ښاروالیو ملي اداره د ولایتي مراکزو ترڅنګ، خپله لمن د ولسوالیو مراکزو ته هم ورسوي، هم به یې د ولسوالیو سیمه ییز بازارونه تنظیم کړي وي او هم به دولت ته راټولېدونکو مالیاتي عوایدو کې اغیزمنتوب راغلی وای.

_د دې ترڅنګ که د ښاروالیو ادارات د پروژو پر تر سره کېدو کې له ولایتي اداراتو څخه استقلالیت پیدا کړي او پر چارو د لاښه کنترول لپاره، خپل کاري پرسونل څو برابره زیات کاندي، نو خدماتو به یې د ښار د بازار سربیګېره، اړوندو نواحیو ته هم عبور کړی وه.

_ دا چې د ښاروالیو لخوا په ښارونو کې ترسره کېدونکې لویې او وړې پروژې یو شمېر یې تزیني او ځینې یې هم بنسټیزې وي، نو که د ځوانانو د بېکارۍ د مخنیوي په هدف وکولای شي چې کومې پروژې استعجالیت ته اړتیا ونه لري، د لویو ماشینریو پر ځای د عامو خلکو لخوا په ابتدایي وسایلو(بېلچه، کولنګ او...) تر سره شي؛ هم به یې بې کاره خلکو ته کار موندلی وي او هم به یې پروژې اغیزمنې ترسره شوې وي.

دا چې ښاروالۍ په خپله اداره کې د کلتوري خدماتو څانګې هم لري، نو که د هر ولایت په پارکونو او سیاحتي مراکزو کې د وړیا کتاب لوستنې لپاره کتابخونې او د تاریخي اثارو لپاره موزیمونه جوړ کړي، هم به یې د کتاب لوستنې دود نهادینه کړی وي او هم به یې د افغانستان تاریخي اثارو څخه خلک خبر کړي.

_د ولایتي ښاروالیو له خوا که چیرې له ښاره بهر شنې سیاحتي سیمې رامنځته او خلکو ته د تفریح او لوبو زمینه برابره کړي، د عوایدو په زیاتوالي او د ځوانانو د پام اړولو او بوخت ساتلو برخه کې به اغېزمن ګام وي.

_ دغه راز په ډېری ولایتونو کې د مسافرینو یا سیلانیانو د اوسېدنې او د ولایتي غونډو او لویو محفلونو د ترسره کېدو لپاره معیاري هوټلونه او مسافر خونې شتون نه لري، که ولایتي ښاروالۍ د دولتي هوټلونو په نوم د ښار په مختلفو سنټري سیمو کې د کنفراسونو، غونډو، ودونو او د مسافرینو د اوسېدنې لپاره معیاري هوټلونه تأسیس کړي، هم به یې عواید ورسره لوړ شوي وي او هم به یې ښار ته د سیاحینو د جذب زمینه مساعده کړې وي.

یوه لویه ستونزه په ښارونو کې د تشنابونو نشت وي، چې له لرې پرتو سیمو څخه راغلي نابلده کسان ډېر کله له ستونزو سره مخ کېږي، که ولایتي ښاروالۍ دغه نقطه هم په نظر کې ونیسي او د ښار په مختلفو ساحو کې تشنابونه ایجاد کا، له خرما او ثواب څخه به خالي نه وي.

_ همدا راز که ورته شونې وي، د ولایت په مزدحمو پارکونو او لویو څلور لارو کې د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې، د تعلیمي ودې او صحي چارو ته د پاملرنې په ګډون پر مهمو مواردو لیک دړې یا لویې لوحې او تزییني تبلیغاتي بینرونه نصب کړي او هم د هسکو آپارتمانونو پر سرونو او مزدحمو پارکونو کې د لویو سکرینونو له لارې د افغانستان د لرغونو تاریخي او سیاحتي سیمو، ارزښتمن تاریخ او نورو جلبوونکو مواردو او ... په هکله مالوماتي خپرونې وړاندې کوي، تر ډېره به د پام وړ وي.

_د ولایتي مراکزو اړوند کلي چې د ښاروالۍ په ناحیو کې راځي، مهمه ده چې هر کلی جلا جلا د پېژندنې لوحه ولري او د هغه کلي مهم مالومات لکه ( نوم، قوم/خېل، ژبه او....) په کې وي؛ دغه راز کلي، کوڅې. او ګذرونه د GPSسیستم باندې سنبال شي، څو د نابلده کسانو لپاره ادرس موندل اسانه شوي وي.

_که ولایتي ښاروالۍ له نورو ارګانونو سره په همغږۍ ښاري اصناف سره جلا؛ په ځانګړې توګه د شورمونو /بارګینونو لپاره له ښاره بهر ساحې مشخصې او د لویو مارکیټونو تکاویانې د پارکینګونو یا موټر دریدو د ځایونو په توګه وټاکي او یا هم ځانګړې پارکینګونه تأسیس کا؛ ، تر ډېره به یې ښارونو کې ازدحامات او ګڼه ګونه لمنځه وړې وي.

_ولایتي ښاروالۍ باید د ولایتي ریاستونو سربېره د ځوانانو، فرهنګیانو، د ښوونیزو اداراتو د نوابغو زدکړیالانو، د پوهنتونونو د مختلفو پوهنځیو ورزیده استادانو، د فني او حرفوي کسبګرو او دهقانانو په ګډون په مختلفو ناحیو کې د متنفذینو کمیټې ولري؛ څو د اړوند چارو په ښه ترسراوي کې هم ورڅخه مشورې واخلي، هم له تر لاسه کړي اعتبار څخه یې په مختلفو زاویو کې ارزښتمن کارونه له کوم خنډ او ځنډ پرته اغېزمن تر سره کړي وي.

_د ولایاتو په مراکزو کې اړوند سیمې /ناحیې د ښاروالیو لخوا ټاکل شوي وکیل ګذران /قومي مخور لري چې ښاروالۍ کولای شي د یادو قومي استازو په مټ هم وخت پر وخت ځوانان د ښار د صفایي لپاره اشر کړي، هم د ښاري لانجو په هوارې کې ترې کار واخلي او هم یې په مټ د عوایدو په راټولونه او د وړ مشورو په تر لاسه کیدو کې د ښو معاونینو په توګه وکاروي.

_که ښاروالان تر اغېزمنو مشورو وروسته هر کار او پروژه جسورانه او جرأتمندانه ترسره کړي او اړوندو آمرینو او مدیرانو ته د کاري اصولو په محوطه کې لازم اختیارات ورکړي، لرې نه ده، چې هم به یې کارونه اغېزمن وي او به یې له چارو ټول راضي وي.

دا او دې ته ورته نور ګڼ مهم موارد دي، چې که د ښاروالیو محترم ادارات ورته پاملرنه وکړي، د افغانستان ښارونه به تر ټولو په لوړه سطحه عصري، میکانیزه او ښه جوړ شوي وي.

# د کندوز فاجعه، که دویمه یمامه؟

**لیکوال: ضیاء الحق حسان**

مدرســه د علم او پوهې ځای دی، همدلته د معرفت ډیوې بلېږي، د مدرســې له غېږې اســلامي ټولنې ته په پوهه او اخلاقو سمبال ځوانان وړاندې کېږي، د مدرسو سرچینه آن له صفې پیلېږي، صفه د مسجد نبوي تر څنګ هغه څپره وه چې د اسلام د ســتر پیغمبر ملګري به د دین د زده کړې په موخه همدلته راټول وو، دوی د دنیوي ژوند ســره خدای پاماني کړې وه او ټول ژوند یې د اســلام د اشــاعت لپاره وقف کړی و، لله الحمد اوسمهال په څوارلسمه صدۍ کې هم د اصحاب الصفه لار پالل کېږي او مدرســې تاندې دي؛ هلته هم د نبوي ګلبڼ ګلان د ظالمانو له حملو په امن نه وو ډېرى وخت به د شــهادت له کاروان سره مل شــول لکه د یمامې په ســتره معرکه کې؛ یمامه داسلامي تاریخ یوه له سترو معرکو څخه ده. مســیلمه کذاب چې د نبوت دروغجنه دعوه یې کړې وه له ډېر لوی لښکر ســره د مســلمانانو په وړاندې دیمامه میدان ته راوتلی و الله تعالی مسلمانانو ته فتحه ورکړه او مسیلمه په دې جنګ کې هلاک شو.

په دې جګړه کې په سلګونو حفاظ او قاریان شهیدان شول او په نتیجه کې یې د قرآن کریم دجمع کولو عظیم الشــانه کارنامه سر ته ورسېدله. کله چې د یمامه په جنګ کې حفاظ قران کریم او قراء شــهیدان شول نو حضرت عمر رضی الله علنــه حضرت ابوبکر رضي الله عنه ته راغی او ورته یې وویل چې ډیر حافظان شــهیدان شول که دا سلسله همداســې جاري وه نو داسې نه چې قرآن کریم د حافظانو په ســینو کې قبرونو ته ښکته شي کاشکې مو دا قرآن کریم جمع کړی وای چې حضــرت ابوبکررضی الله عنه زید بن ثابــت رضی الله عنه ته دنده وســپارله چې قرآن راټول کړه او ســره یو ځای یې کړه هغه و چې قرآن کریم د لومړي ځل لپاره جمع شو.

دلتــه هم د علم ګلبڼونه په امن نه وو دوی د وخت د فرعوني لښــکرو له خوا تر حملو لاندې راغلي او په شهادت رسېدلي، د هېواد په ډېرو ولایاتو کې د ناټو تر چتر لاندې راغلیو د بشــریت تش په نوم مدعیانو له لوري په ګڼو مدارسو شپني عملیات او بمباردونه تر سره شــول او ګڼ طالبان او حافظان په کې په شهادت ورســېدل چې له ټولو لویه فاجعه د کندوز ولایت د هاشــمیه مدرسې وه چې د۱۳۹۷هـ ش کال د حمل په ۲۲ مه نېټه یې د دســتاربندۍ محفل د خپل برید هدف وګرځولو. په کندوز کې د حافظانو او علماوو د دســتاربندۍ مراسم پیل و چې د وخت فرعوني لښکرو دخپل چاپلوســانو په ملتیا ورباندې بمبارد پیل کړ او لســګونه تنکي حافظان او علماء یې شهیدان کړل په داسې حال کې چې لاســونو کې یې سندونه او په غاړه یې د دســتار بندۍ هارونه پراته وو، په دوی داســې مهال درانه بمونه غورځېدل چې د الله تعالی د سپېڅلي کتاب د تنکیو حافظانو مبارکو سینو تازه د سپېڅلي کلام د حفظ غوټۍ سپړلې وه د دوی سینې په مرمیو غلبیل شوې او هغه نوراني څېرې چې تازه یې تربیت په قال الله او قال الرســول شوی و او د اسلامي ټولنې د امیدونو سترګې د دوی په لور کږې وې د فاسفورس په بمونو وریت کړل.

د خوښۍ دا مراسم په څو شېبو کې د نړۍ د سرې خورو له لوري په غم واوښتل او د حافظانو ســپین پټکي په وینو سره شول، هر طرف د مبارکو حافظانو غوښې پرتې او د الله تعالی ســپېڅلی کلام د دوی په وینو رنګ و، تابه ویل یو ځل بیا عثمان شــهید شوی او قران یې څنګ ته پروت دی، د حافظانو او علماءکرامو د میندو ارمانونه له خاورو ســره مل ول، دوی هغه هارونه چې د خپل زړه د ټوټې لپاره یې لاس کې نیولي و د دوی په کفن هوار کړل، د فارغینو سپین پټکي کفنونه او د دستار هارونه په کفن هوار شول.

انا لله و انا الیه راجعون

د په وینا په دغه بمارد کې آن تــر ۱۷۰ پورې حافظان، علماءکرام او غونډې ته راغلي عام مسلمان په شهادت ورسېدل؟

هلته که یمامه کې د حفاظ کرامو شــهادت د قران کریم د جمعه کیدو سبب شو دلتــه بیا لوی رب د همدې تنکیــو حافظانو له وینو رود نیل جوړ کړ او د وخت فرعون په کې هلاک شــو، د دې ســپېڅلو شــهادتو په وینو کې لوی رب فتحه نغښتې وه او دا دې اوس مو هېواد د بشپړ اسلامي نظام څخه برخمن دی.

**د چاپي سهار دویم ټوک ۱۹۴ مخ**



# د مســلمـانانو پـر مختــګ ته کـتنــه

**څلورمه برخه - لیکوال: پروفیسور ارشد جاوید - ژباړه: انوارالحق عاصم**




أموي او عباسي دورونه

د امویانــو په دور کې هم د فتوحاتو سلســله روانه وه، عقبة بن نافع پــه (۶۸۳م) کې الجزائر او مراکش فتــح کړل، د لومړني ولید په دور (۱۵-۷۰۵م) کې قتیبة بن مســلم ټوله منځنۍ اسیا تر کاشــغر (چین) پورې د واک لاندې راوستله، په دې اسلامي دور کې محمد بن قاسم د هندوستان بلوچستان، سندهـ او ملتانه پورې سیمه د اسلامي حکومت خاوره وګرځوله.

د هشام (۷۶۳م) په دور کې مسلمانانو په اسیا کې د سینا له دښتو د منګولیا تر ځنګلونو سیمه لاندې کړه، په دې دور کې مسلمانانو د اروپا لویه وچه کې هسپانیا او پرتګال فتح کړل، په اموي او عباسي دور کې د کوچنۍ اسیا ډېره برخه د مسلمانانو تر واک لاندې وه.

مشهور غربي تاریخپوه (کیرن آرم سټرانګ) لیکي:

«په اوومه او اتمه پېړۍ کې عرب مسلمانان د یو نړۍ وال ځواک په څېر رادبره شول» همدا لامل دی چې د اتمې پېړۍ په پیل کې دا پوښتنه راپورته شوه چې داسې کوم ځواک شته چې د مسلمانانو سره ډغره ووهي؟

هسپانیا

مشهور مسلمان سپه ســالار طارق بن زیاد (۷۱۱م) کې د اووه زره مجاهدینو په ملتیا د هسپانیې فتحه کولو ته لاړل، نوموړي د (۷۱۱م) اپرېل په اتمه د سمندري لارې نه جبل طارق ته ورسېد، ښکته کېدو سره سم یې د سمندر په غاړه کښتۍ وسوځولې او د بېرته ستنېدو ټولې لارې یې وتړلې، په نړۍ کې د دې سرښندنې بله بېلګه نه لیدل کېږي، د مجاهدینو پر وړاندې یې له ولولو ډکه خطبه وکړه ویې ویل: موږ لپاره د بېرته تګ لارې بندې دي، اوس به یا بری مومو او یا به د الله په لار کې شهیدانېږو.

د هسپانیې پاچا (راډرک) د مسلمانانو مقابلې ته راغی، اته ورځې د خونړۍ جګړې وروسته بالاخره دښمن ماتې وخوړه او راډرک وتښتېد، له دې وروسته مسلمانان مخ پر وړاندې روان وو تر دې چې د څلورو کلونو په موده کې په ټوله هسپانیا د مسلمانانو واک راغی.

د هســپانیا فتح او اسلامي حکومت جوړول یوه داسې تاریخي پېښه ده چې اروپا یې له سیاسي، اقتصادي او تمدني شاتګ نه راوویستله او یو نوی فکر یې ورته ورکړ، په هسپانیا مسلمانانو اته ســوه کاله پاچاهي وکړه، په دې دور کې د مشهورو پاچاهانو له ډلې عبدالرحمن اوّل، هشام اول، حکم اوّل، عبدالرحمن ثاني، محمد اول، منذر بن محمد اول، عبدالرحمن ثالث، حکم ثاني او منصور شامل ؤ، د هسپانیا وروستنی پاچا ابو عبدالله ؤ.

د نړۍ هر تاریخپوه دا مني چې مســلمانان اروپا ته داسې مهال راغلل چې اروپا د جهالت په تورتمونو کې ډوبه وه، (هسپانیا د اروپا یو هېواد دی) هلته نه کوم عالم ؤ، نه ډاکټر او نه ساینسپوه، د مسلمانانو له راتګ سره د دې هېواد بخت بیدار شو، دوی هر لور ته د پوهې او هنر څراغونه روښــانه کړل، د درمل جوړولو اداري یې پرانیســتې، صنعت او تجارت یې وده وکــړه او کرنه کې یې حیرانوونکي پر مختګونه‌راغلل.

مسلمانانو د هســپانیا په لویو ښارونو کې پوهنتونونه پرانیستل، د پوهنتونو سره یې ستر، ستر کتابتونونه جوړ کړل چې په لکونو کتابونه پــه کې پراتــه وو او عالمانو به ترې ګټــه پورته کوله، د مسلمانانو واکمنۍ پر مهال هسپانیا کې په نړیواله کچه بې شمېره علماء، پوهان، ډاکټران او سائنسدانان پیدا شول چې بېلګه یې په ټوله اروپا کې نه موندل کېده.

د مسلمانانو واکمنۍ کې هسپانیا د اروپا تر ټولو پر مختللی هېواد ؤ، پوهنتونونــو یې تر لرې لرې پورې د علم رڼا خپروله، له ټولې اروپا به محصلین د علمي تندې خړوبولو لپاره هسپانیا ته راتلل، له هسپانیا څخه ســاینس او نور علوم اروپا ته انتقال شول چې وروسته بیا د اروپا د بې سارې پرمختګ سبب شو.

په (۱۴۹۲م) کې چې کله هســپانیا کې د مســلمانانو واکمني پای ته ورســېده د هغه ځای نویو عیسوي واکمنانو له دې ویرې چې مســلمانان بیا ځلې ځواکمن نه شي، بې شمېره مسلمانان یې شــهیدان کړل، ډېر یې جبراً عیسویان کړل او پاتې نور یې له هسپانیا څخه وویستل تر دې چې هلته یو مسلمان هم پاتې نه شو.

هندوستان

مکران د عمرفاروق رض په دور کې فتح شو، نوموړي مسلمانان له مخکې تګ نه منع کړل، د ولید اوّل (۱۵-۷۰۵م) په دور کې محمد بن قاسم د مکران والي شــو، نوموړي په مکران له واک ټینګولو وروسته مخکې تګ پیل کړ، لومړی یې ارمن بیله ورپسې دیبل فتحه کــړل، (۷۱۲م) کې محمد بن قاســم (راجه داهر) ته عبرتناکه ماته ورکړه او مخکې لاړ، یو په بل پســې یې ښارونه فتحه کړل، تردې چې د ټول سندهـ له نیولو وروسته یې ملتان هم فتحه کړ، په همدې ډول دا ټوله ســیمه د اسلامي واکمنۍ برخه وګرځېده، په هندوســتان کې لومړنۍ اســلامي سیمه وجود ته راغله.

سلطان محمود غزنوي (۹۷۱-۱۰۳۰م) د افغانستان او خراسان پاچا ؤ، نوموړي په هندوستان (۱۷) بریدونه وکړل او هر ځل یې هندوان له شرمناکې ماتې سره مخ کړل، (۱۰۲۱م) کې نوموړي پنجاب په خپله واکمنۍ کې راوست، لاهور یې پلازمېنه وه، په همدې ډول محمود غزنوي په هندوستان د مسلمانانو خپلواک حکومت ته لار پرانیسته.

شــهاب الدین غوري په (۱۱۹۲م) کې د دهلي نیولو ســره په هندوستان کې د یو خپلواکه اسلامي حکومت بنسټ کېښود، په غوري واکمنۍ کې اوسنی پاکستان، شمالي هندوستان، بِهار او بنګله دېش شــامل ؤ، له غوري وروسته د هندوستان په مهمو واکمنانو کې قطب الدین ایبک، التمش، غیاث الدین بلبن، علاؤ الدین خلجي، محمد تغلق، ابراهیم لودهي او شیرشاه سوري ؤ. (۱۵۲۶م) کې بابر د مغلو خانداني واکمنۍ بنســټ کېښود، د مغلو واکمني په خپل وخت کې خورا ســتره واکمني وه، له بابر وروسته همایون، اکبر، جهانګیر، شاه جهان او اورنګزېب د مغلو واکمنۍ ستر واکمنان ؤ، اورنګزېب نه وروسته د مغلو واکمني په زوال شــوه، وروستنی واکمن یې بهادرشاه ظفر ؤ، په (۱۸۵۷م) کې انګرېزانو پر دهلي قبضه وکړه او په هندوســتان د مسلمانانو پاچاهي پای ته ورسېده، مسلمانانو په هندوستان زرکاله واکمني وکړه.

د روم سمندرګي ټاپوګان

مســلمانانو په بېلا بېلو وختونو کې د روم سمندرګي ډېر ټاپوګان فتح کړل، تر ټولو لومړی یې (۶۵۳م) کې قبرص فتح کړ چې دا د عثمان رض دور ؤ، د معاویةرض په دور (۶۷۲م) کې روډس، (۸۲۵م) کې کریټ، (۸۲۷م) کې صقیلي، (۸۶۹م) کې مالټا، (۹۰۲م) کې بلیارک او په (۱۰۱۵م) کې سارډینا فتح شول.

# د رمضان ۲۱مه او ۲۲ مه؛ د تاریخ له پاڼو

**حسان مجاهد**

۱- د عثمان الأول وفات

عثمان الأول د أرطغرل زوی چې د عثماني خلافت بنسټګر دی، په ٦٥٦هـ کال کې وزیږېدو او په ٧٢٦هـ د رمضان په یوویشــتمه ورځ وفات شــو. په کوم کال چې بغداد د مغلو په لاس سقوط شــو، د هلاکو په مشري بې شمېره بوډاګان، میرمنې او ماشــومان شهیدان شو، ښارونه او مساجد ونړېده او وروستی عباسي خلیفه ووژل شو؛ په همغه کال الله تعالی عثمــان الأول پیدا کړ چې بیرته یــې خلافت را ژوندی کړ. نوموړي به له بې وزلو کسانو سره مرسته کوله او د ډیرې سخا په نتیجه کې، له مرګه وروســته یې تر شا یوازې یو آس، توره او زغره په میراث پرېښوده.

۲_ دشیخ فرحان السعدي شهادت

په فلســطین کې د مســلحو ځواکونو زړور قومندان شــیخ فرحان السعدي په ۱۸۶۰م کې د فلسطین شمال طرف ته په «المزار» کلي کې وزیږېد او کله چې فلســطین د بریتانیا له لوري اشغال شو، نو نوموړی د اشغال پر وړاندې د مجاهدینو رهبر و او د بریتانوي او صهیونیستي ځواکونو پرضد د سترو معرکو برخــوال و، د بریتانوي ځواکونو لخــوا له نیول کیدو وروسته درې کاله بندي شــو، کله چې له بنده خوشی شو، د شیخ عز الدین القســام جهادي تنظیم کې یې ګډون وکړ، د هغه له شــهادت وروسته یې د ډېرو بریمنو عملیاتو مشري وکړه. کله چې بریتانوي یرغلګرو لــه کوره ژوندی یوور، له زیاتو شــکنجو وروســته محکمې پرې د اعدام پریکړه وکړه چې بالآخره د رمضان په یوویشــتمه ورځ په داسې حال کې چې روژه یې په خوله وه، دار ته پورته شــو او خپل روح یې خالق لایزال ته وســپارل او په شهادت سره یې ټول فلسطین غمګین شو.

په دوه ویشتمه

۱_ په ۲۷۷هـ کال د رمضان په دوه ویشــتمه په اندلس کې اتم اموي واکمن عبدالرحمن الناصر وزیږېد چې د خلافت پــه ۵۰ کلنه دوره کې یې اندلس د علم او ثقافت په ډګر کې ډېر پرمختګ وکړ.

۲_ په ۱۳۳٦هـ کال د رمضان په دوه ویشتمه د هند په بمبیي ښار کې د اسلام ستر داعي شیخ أحمد دیدات رح وزیږېده، له هغه وروسته یې پلار سره له نوري کورنۍ جنوبي افریقا ته لاړ، هلته نوموړی له عیســوي مبلغینو سره د مناظرو له امله خورا مشهوره شو او په لاس یې زیات شمېر کسان مسلمانان شو. اســلام ته د دعوت په لاره کې یې ډېرې هڅې وکړې او دغې لارې ته یې ډېر خلک تشویق کړل. نوموړی د ۸۷ کالو په عمر په جنوبي افریقا کې وفات شو.

۳_ د هجرت په لومړي کال د رمضان په دوه ویشتمه رسول الله ﷺ د ځینو اهدافو په موخه د ســریو لیږلو لړۍ پیل کړه، چې یوه ترې «عیث» ته د حمزه رض په مشري او بله د کعب بن اشرف وژلو ته د محمد بن سلمه رض په مشري سریه وه.

٤_د رمضان په دوه ویشتمه عمیر بن عدي رض شپې مهال په پټه توګه لاړ او د «عصماء» په نامه هغه یهودۍ ښــځه یې په خپل کور کې ووژله چې رســول الله ﷺ ته به یې د شعر په ژبه ســپک الفاظ کارول، اسلام به یې غندل او مسلمانانو ته به یې ضرر رساوه.

٥_ د رمضان په دوه ویشــتمه د حنفي فقهــي لوی عالم د (ملتقی الابحر) لیکول إبراهیم الحلبي د خراســان یا بلخ په آستانه نومي کلي کې وفات شو، نوموړی د سوریې په حلب ښــار کې زیږېدلی و او په خپل وخت کې د عثماني خلافت واکمنانو او قاضیانو ورباندې ډېر باور درلود.

## غزل

انس حقاني

چې لیدلې یې ژوندون نه وي تکرې
توپانو سره دې نه وهي ډغرې
دا وړې خبرې پاتې شولې چا ته؟
چې کوچنۍ خوله هم کوي غټې خبرې
ورځ به هم له ازدحامه توره شپه وای
ښه ده نه شته په انسان پسې وزرې
تقدس د محبت پکې پایمال شو
په هوس باندې جوړېږي نن سندرې
تا چې ووینمه ژوبل زړه مې ښه شي
حق حیران یم درته ووایمه څرِې؟
لا شوه زیاته، ستوماني مې کمه نه شوه
له دې ښاره چېرته ځه انسه لرې
یادونه: څرې په خوستۍ لهجه کې «ښنګه» ته وایي.

## سولییز ژوند؟

صبغت الله وصیل

نشته سولییز ژوند د سر زور اوبه په بره ځي
دلته زورور تر خپل هدفه بې خطره ځي
تشې ګوتځنډنې او غندنې ګټه نه لري
ګورو چې غزه کې مو سرې وینې له ځیګره ځي
سترګه هله سوځي چې قوت د پرتلې ور وي
ځمکه فضا څه چې کیسه آن تر سمندره ځي
دا یاغي جهان د هغو خلکو سلامي کوي
تورې یې چې بریښ لري او خرپ یې له خنجره ځي
ژنې قطارونو کې ولاړ دي منظم ښکاري
وروسته له اعداد د سربښندنې تر ډګره ځي
نه به دې څوک مخ ډب کړي او نه دې دزور تاب لري
زور د تکبیرو چې له پامیر شمشاد سپین غره ځي
جوړ کړه قوت جوړ کړه بیا یې ټیټه چا ته مه وایه
متو کې چې زور لري بریت تاو کړي او په نره ځي

## پسرلی راغلی

استاد ګل پاچا الفت

باغوانه زیرې مې درباندې پسرلی راغلی
وخت د ګلانو او موسم ډېر ګلالی راغلی
دا په سحر کې غوړېدلي د ګلاب غوټۍ ده
که د ښادۍ په ورځ د سرو زرو تالی راغلی
دغه شنې پاڼې دي چې ځان پکې سوسن پټ کړی
که له جنته د خلعت ښایسته کالی راغلی
بلبله ګرځي خپل پردې باندې دا زېرې کوي
چې ګل ته ګورئ بیا زما ښایسته لالی راغلی
وځي صحرا ته ښایسته جونې ګلانو پسې
د فرش لپاره غرو رغو ته شنېلی راغلی
بیا د الفت او محبت نارې بلبله وهي
په ګرمجوشي کې بهار څومره بریالی راغلی

# فرهنګي مبارزه کې د تقدس سرچینې

ګل رحمن رحماني

ادب او فرهنګ یوازې په ازاد او ارام چاپېریال کې نه رامنځته کېږي، فرهنګي تجربو ثابته کړې ده چې فرهنګي پېښې او جریانونه په ناورینونو او نازکو حالاتو کې لا ښه وده کوي، دا ځکه چې سوژې زېږوي او فرهنګیانو ته د خپل پیغام د رسولو او فرهنګي رسالت د تر سره کولو غوره فرصتونه ایجادوي. په ادبیاتو کې یو صنف د حبسیه ادبیاتو په نامه یادېږي چې شاعرانو یې په حبس او زندانونو کې پنځولي او خپل غږ یې د ظلم او زیاتي پر وړاندې د زندان له پنجرو هم اوچت کړی، دا غږ تلپاتې شوی او د یوه لاربښوود په توګه یې نورو ته د غوره ازاد ژوند کولو روحیه ورکړې ده. دلته د فرهنګي او قلمي مبارزې په برخه کې

**-د فرهنګي مبارزې عقیدوي او ایماني اړخ**

افغانستان یو اسلامي هېواد دی او له اسلامي شریعت پرته بله هره نسخه په کې ناکامه شوې او پایله یې نه ده تر لاسه کړې. ځکه خو اسلامي شعایر، اصول او عقیده زموږ د فرهنګي مبارزې روح جوړوي. همدا عقیدوي او ایماني اړخ ددې سبب ګرځي چې فرهنګي مبارزه د یوه ځواکمن قوت په څېر د اسلامي مبارزې ملاتړ وکړي او د یوه کل په توګه ټول هغه اړخونه په بر کې ونیسي چې د فکري او فرهنګي مبارزې پر مهال ورته دښمن د تشیال په سترګه ګوري.

**-ژمن او په مبارزه باورمن مشران**

د وضعي نظامونو ګڼ مشران اصول او کړنلارې یوازې د نورو یا خپل واک د دوام لپاره وضعه کوي، کله چې یو فرهنګي مبارز، شاعر او لیکوال په دې باوري شي چې مشر یې په همغه فرهنګي غولي ورسره دی چې دی وربانديې درېدلی، دا د مبارزې د قوت ټکی ګرځي. زموږ اکثره مشران عالمان، د فصاحت او بلاغت استادان او په ټوله کې په فرهنګ او فرهنګي مبارزه باورمن شخصیتونه وو او دي، ځکه خو دا ټکی د فرهنګي مبارزې د برې په راز بدل شوی و.

**-روښانه فرهنګي تګلاره**

بې اصولو او کړنلارې هېڅ کار د برې تر منزله نه رسېږي، په همدې سبب باندې رڼه فرهنګي کړنلاره چې د امر او مامور، شاعر او لیکوال، فرهنګي دریځ او وینا تګلوری په کې څرګند کوي، ددې سبب ګرځي چې فرهنګیانو ته د لارې نقشه ورکړي او ددغه پالیسي په سبب هم خپل هویت خوندي کړي او هم د دښمن ځواب وویلی شي.

–د تورې او قلم توازن او پخلاینه

که څه هم قلم په هر مهال خپل ځای لري، انسان ته د خدای تعالی مقدسه ورکړه ده، د علم، عرفات او معرفت په خپراوي کې د جلا او تلپاتې نقش لرونکی دی، خو کله کله قلم په یوازې ځان مطلوبې پایلې په لاس نه شي راکولی، ښنګه چې د اوسنۍ نړۍ د یرغلګرو هېوادونو دویم ځواب زور او وسله وي، دا به مناسبه نه وي چې اسلامي هېوادونه یوازې په قلم تکیه ورکړي، ځکه چې توره زموږ د عظمت د پخواني پرتم نښه ده او باید له قلم سره ملګرې وي.

**-د فرهنګي مبارزې ملي او ولسي رېښې**

زموږ ولس مسلمان دی، اسلام زموږ په روح او روان کې رېښې لري، زموږ ټول تېر انقلابونه اسلامي شعایرو او ارزښتونو ته د سپکاوي په سبب رامنځته شوي یا په بله اصطلاح له اسلام څخه په دفاع کې شوي دي، ځکه خو اسلام او ارزښتونه یې زموږ د ژوند اساس دی. په فرهنګي مبارزه کې د ولس یا ملت هیلې او ارمانونه انعکاس مومي، د هغوی د اوښکو او ژړاګانو تصویر وړاندې کوي، ځکه خو اړینه ده چې فرهنګي مبارزه تحمیلي نه، بلکې د ولس له هیلو او ارمانونو څخه را پورته شوې وي. دلته د کور، کالي او ډوډۍ شعارونه ځکه ناکام شول چې د ولس له هیلو نه یې تحمیلي استفاده کړې وه.

**-د فرهنګي کار مثبتې اغېزې**

په تېرو لسیزو کې د فرهنګي او قلمي مبارزې په ځانګړي ډول د شعر او نثر اغېزې څرګندې وې، هم د روس پر وړاندې د جهاد او هم د امریکا او ناټو پر وړاندې د سپېڅلې مبارزې یو مهم سنګ فرهنګي کار او نشرات وو. زما یادېږي چې یوې کونډې، بورې او بې وروره شوې مور تسل به د مشرانو په ډاډ، مرستو او پیغامونو دومره نه کېده، څومره به چې د هغوی یو شهید په ترانه او هنر کې وستایل شو، تسل به یې ورکړ او معنوي ارامي به ور په برخه شوه؛ نو فرهنګي مبارزه هغه مهال کامیابه وي چې مثبتې اغېزې یې څرګندې وي، له همدې څخه فرهنګي مبارز روحیه اخلي او کار ته هڅول کېږي.

**-د فرهنګي موادو د خپراوي ژبه او مواد**

که چېرته د تېرو دوو لسیزو په جریان کې د اسلامي امارت فرهنګي موادو او خپرونو ته پام وکړو، په دواړو رسمي ژبو یې تر ولس او په انګلیسي او عربي ژبه تر نړیوالو رسولي دي، د فرهنګي مبارزې د موادو د خپراوي لپاره د ډله ییزې ابلاغ وسایل او مواد خورا اړین دي، ځکه چې دا فرهنګي پانګه باید تر نورو و رسول شي او د یوه ګډ فرهنګي میراث په توګه راتلونکي ته پاتې شي. ټلویزیون، چاپي، برېښنایي رسنۍ او محلي تبلیغاتي مواد، په ځانګړي ډول مسجد، ممبر او ډېره ددې موادو د رسولو غوره ځایونه دي چې د فرهنګي مبارې د برې او اغېز سبب ګرځي. زموږ ټولنه چې اکثره یې نالوستي دي، غږیز، ویډیویي او تصویري مواد د فرهنګي مبارزې جذب په کې پیاوړی کوي.

**-د دښمن فرهنګي کمزورۍ او انحرافات**

فرهنګي مبارزه او مبارزین چې څومره په خپل ذات کې د اسلامي مبارزې په سر کې راځي، همداسې د دښمن لپاره هم ارزښت لري او د اوسنۍ نړۍ د سړو او فکري جګړو یوه مهمه وسله فرهنګي او فکري تبلیغاتي وسایل دي، له سپېڅلو ارزښتونو او شعارونو ناوړه استفاده کوي، ځکه خو فرهنګي مبارزه کې باید د دښمن فرهنګي کمزورۍ او انحرافات درک شي او بېرته د هغوی پر وړاندې د هغوی د کمزورۍ، خو د ولس لپاره د تصحیح او فکري خوندیتوب لپاره وکارول شي.

**-د قربانۍ او شهادت اوچته روحیه**


شهادت او قرباني هغه وخت رامنځته کېږي چې په خپل ارمان او هدف یو څوک له زړه نه مین شي، دا مینه په حقیقت او رښتینولۍ او تقدس باندې ده، هر وخت چې یو فرهنګي مبارز په دې باور وي چې قلم د شهرت تر ځنګ د دار، زندان او شهادت زېرې هم راوړلی شي؛ نو مبارزه د فرهنګي پړاو د بریالیتوب پړاو ته رسېږي او دا د خوښۍ او سرور داسې کیفیت دی چې اتوم او زبرځواکونه یې بدیل نه شي وړاندې کولی.

**-د هغوی د ارمانونو پالنه او تلپاتې یاد**

که څه هم شهیدان ابدي ژوندي دي، دوی الله تعالی ته خپل امتحان په بریالیتوب سره ورکړی دی، زموږ یادون او ستاینه یې اړتیا نه ده، خو پر وړاندې یې زموږ فرهنګي رسالت دا دی چې د ارمانونو پالنه او درناوی یې وشي، د یوه شهید فرهنګي مبارز او ادیب د یاد او ارمان ساتل په حقیقت کې راتلونکو نسلونو ته د هغوی پیغام رسول دي. دا چې نن موږ او تاسې را ټول شوي یوو او هغوی لمانځو په حقیقت کې د دوی د قربانۍ پر معنوي ارزښت خبرې کوو او ځان د همدې زنځیر د یوې کړۍ په توګه راتلونکي نسل ته د پیغام رسونکي په توګه ثابته وي. موږ د شهیدو ادیبانو د ستاینې له لارې په حقیقت کې هغه فرهنګي پانګه او میراث خوندي کوو چې تر بل هر میراث ګران بیه او ارزښتمنه ده. د ټولو شهیدو او زندان خوړلیو ادیبانو اروا دې ښاره او لاره یې دې تلپاتې او روښانه وي.

# په لمانځه کې څنګه خشوع رامنځته کړو؟

لطف الرحمن قمري



لمونځ د الله ﷻ له ټولو غوره عبادت دی او رسول الله ﷺ په حدیث کې لمونځ ته د دین ستن ویلې ده.

په حدیث کې راځي د قیامت په ورځ به د بنده په اعمالو کې (د ټولو نه مخکې ) د هغه د لمانځه حساب وي که چېرې د هغه د لمانځه حساب صحیح ووتلو نو کامیاب شو او نجات یې وموند او که چېرې خراب راووت نو نامراد او تاواني شو.لمونځ دومره مهم عبادت دی چې آن د جهاد په دوران کې هم مونځ نشي قضاء کولی.

لمونځ انسان له ګناهونو ژغوري، الله ﷻ په سورة العنکبوت ۴۵ نمبر ایات کې فرمایلي چې یقیناً لمونځ منعه کول کوي د بې حیا او ناوړه کارونو څخه.

اوس که یو څوک ووایي چې زه لمونځ کوم خو د ګناهونو څخه مې نه منعه کوي نو هغه ته ځواب دادی چې د لمونځ د قبولیت یو مهم شرط په لمانځه کې خشوع او عاجزي ده.

الله ﷻ د سورة المومنون اولو ایاتونو کې د مؤمنانو صفتونه ذکر کوي چې اول صفت کې فرمایي {هغه (کسان) چې په خپل لمانځونو کې عاجزي غوره کوي؛ }

د دغه ایات نه معلومېږي چې مؤمن په هغه لمونځ سره کامیابدلی شي چې په هغه کې خشوع او عاجزي وي.

همدارنګه الله ﷻ په سورة الماعون کې فرمایلي{بیا د هغو لمونځ کوونکو لپاره تباهي ده، چې له خپل لمانځه څخه په غفلت کې لوېدلی دی، تفسیر کابلي لیکلي چې په لمانځه کې خشوع او عاجزي نه کوي.

د ابوبکر او عبدالله ابن زبیر رضي الله عنهم په اړه راغلي چې دوی به په لمانځه کې داسې ساکن او آرام وو لکه یو بې ساه لرګي او ویل کېده به چې دغه د لمانځه خشوع ده.

کله چې یو مسلمان لمونځ پیل کړي نو الله ﷻ ملايکو ته وو ایي زما او د بنده ترمنځ پرده اوچته کړئ خو کله چې مؤمن سوچونه پیل کړي الله ﷻ ملايکو ته وو ایي پرده بېرته را وغورځوئ.

معاذ ابن جبل وایې چې لمونځ پیل کړي او ښې طرف اوچپ طرف سرې دې وپیژندو دا لمونځ دې نه قبلېږي.

د احادیثو د صحابوو او د علماوو د اقوالو څخه ښکاري چې په لمانځه کې خشوع ډېره ضرور ده، نو په لمانځه کې خشوع په یوڅو کارونو سره راځي هغه دا چې.

–داسې عبادت کوه لکه ته چې الله وینې که ته الله نه وینې نو الله خو تا وینې.

– د لمانځه ژباړه زده کړه او د لمونځ په وخت کې هغې ته فکر کوه.

–د قیام په وخت کې داسې په عاجزي ودرېږه لکه یو مجرم چې د قاضي په مخ کې ولاړ وي.

– لمونځ الله ﷻ سره خبرې کول دي نو په ډېر ادب او احترام سره د لمانځه الفاظ وایه.

–په لمانځه کې اخوا دیخوا مه ګوره.

–لمونځ په دغه نیت کوه چې ته د الله نه ویرېږې.

–ځان د دنیا له کارونو فارغ کړه.

– د لمانځه په الفاظو کې فکر او سوچ کوه.

–هغه ایاتونه او احادیث لوستل چې د لمانځه دخشوع په اړه راغلي.

– داسې فکر وکړه چې دا ستا اخر لمونځ دی.

الله ﷻ دې زموږ لمونځونه اصلاح کړي.

# استفاده مواد نشه آور؛ مرگ تدریجی جوانان مسلمان

**محمد تواب اخوان**

سپاس و ستایش تنها سزاوار خداوندی است که چیز های پاکیزه را حلال و ناپاک مخدرات و دارو های نشه آور را برای ما حرام گردانیده است.
الله متعال در این مورد می‌فرماید: (بقره ١٩٥). ترجمه: یعنی: خود را به دست خود، به هلاکت نیفکنید.
و نیز در سوره نساء آیه ٢٩ می فرماید: ترجمه: و خود را نکشید! خداوند نسبت به شما مهربان است.
و نیز پیامبر بزرگ اسلام می‌فرماید: «لا ضرر و لا ضرار» (صحیح - روایت ابن ماجة)، ترجمه: نه به خود ضرر برسانید و نه به دیگران.
و می فرماید: «کل مسکر خمر و کل خمر حرام» روایت مسلم
ترجمه: هر چیز مستی‌آوری شراب است وهر مستی‌آوری حرام است.
با توجه به آیات و احادیث رسول الله (ص) مسلمان نباید قدرت و توانایی خود را هدر دهد و حق ندارد از جاده حق منحرف شود بدون شک اعتیاد از مصادیق هلاکت است و چون اقدام به هلاکت از منظر قرآن کریم و احادیث گهربار رسول الله (ص) ممنوع است و در اسلام هر چیزی که به آدمی مضر باشد حرام است چه تریاك باشد چه شیره تریاك باشد چه بنگ باشد چه حشیش و هروئین باشد همه اینها را شریعت حرام می داند
همه ما می‌دانیم چرس و حشیش و تریاک و هروئین و سیگار و دیگر مواد های نشه آور موجب زیان رساندن جدی به جسم و بدن می شوند و به مرور زمان موجب هلاکت انسان خواهند شد، یکی از این مواد های نشه آور بسیار خطرناک که فعلا در شهر ها و کوچه و پس کوچه های کشور ما رایج شده همین تابلیت های نشه آور است که بدبختانه حتی افراد و اشخاص چیز فهم و تحصیل کرده با استفاده از این دارو ها زندگی خود و خانواده خود را تباه می کنند. این داور های نشه آور ترکیب شده از مواد کیمیاوی هستند که از کشور های ویرانگر وارد کشور ما میگردند با تاسف بیشترین جوانان در شب نشینی ها و محافل، بدون درک عواقب ناگوار آن از این موادهای زهر آلود نشه آور استفاده میکنند با مصرف این مواد های کشنده تاثیرات مخرب جبران ناپذیری را چه از لحاظ جسمی و چه از لحاظ روحی برجای میگذارد در این نبشته از چندی آن به طور نمونه یاد آوری میکنم تابلیت K: دشمن سلامتی و زندگی شما؛ چون حرارت بدن را بالا می برد و این بالا رفتن حرارت بدن بسیار خطر ناک و کشنده است، چون تخریب سلول های دماغی، پوکی استخوان و ایجاد روحیه پرخاشگری در وجود افراداز اساسی ترین آسیب های این تابلیت میباشد و همچنان تابلیت K باعث کاهش بینایی، افزایش خواب، اختلال عصبی، آسیب های جلدی، افزایش فشار خون، افزایش ضربان قلب، خشکی دهن بروز افسردگی، ناامیدی، هراس از زندگی و اعتیاد بیشتر به هیروئین میشود
بنابرین استفاده از داور های نشه آور میان جوانان تنها با تابلیت K خلاصه نمی‌شود دومین موادی که باعث شده جوانان به زندگی خود پایان دهند داروی بنام زیگپ است که امروزه از سوی جوانان ترویج پیدا کرده است جوانانی که از این دارو استفاده میکنند با علایم خونریزی بینی، سرفه شدید و التهاب قفسه سینه از دست دادن آب بدن، برهم زدن سیستم عصبی، درد های عضلاتی، ضعف شدید، اسهال، افزایش ضربان قلب ، لکنت زبان، افزایش اشتهای بی حد، حرکات ناخواسته چشم ها و اختلال در حافظه مبتلا می‌شوند، بنابرین چنین به نظر می رسد که حذف و برچیدن قشر جوان از جامعه یک برنامه خیلی بزرگ و کشنده است دشمنان، قشر جوان ما کسانی هستند که با تمام قدرت و توان از تمام ابزار کشنده مانند تبلیغات رسانه ای برای نابودی و فلج نمودن جوانان کشور ما استفاده میکنند تا جوانان مسلمان را به قهقرا بکشانند و اگر جلو فروش و پخش این مواد های نشه آور از دوخانه ها کوچه و پس کوچه ها گرفته نشود روز به روز شاهد از بین رفتن جوانان بیشتری در کشور خواهیم بود بنآ (آموزه های اسلامی) شریعت اسلامی شدید ترین ممانعت ها و تحریم ها را برای استعمال و ساخت، خرید و فروش مواد نشه آور قایل شده است مطابق این آموزه ها و خطر ها برای همه بخصوص علمای کرام، وکلای گذر، نماینده ها، موی سفیدان، جوانان و مسؤلین واجب است از این مواد های پلید و کشنده، فرزندان، بستگان و آشنایان و همه را شدید برحذر داشته و برای نابودی و برچیدن (مواد های نشه آور) آن از کوچه و پس کوچه ها اقدام جدی نمایند و از دید اسلام هرگونه کمک، کشت، تهیه، خرید،نقل و پخش این دارو و مواد های نشه آور شامل مجازات الهی خواهد بود و هرگونه در آمدی از آن حاصل شود حرام و نامشروع است.

# جنگ اسرائیل و حماس: فهرست رویدادهای مهم

**منبع: الجزیره انگلیسی - ترجمه و تخلیص: سروری - جنگ و بحران بشری**

• سازمان جهانی صحت یا (WHO)، خواستار تخلیه مریضان از شفاخانه الشفاء شده و گفت که از زمان آغاز محاصره اسرائیل در این شفاخانه در ١٨ مارچ، ٢١ مریض از اثر نبود امکانات جان های خود را از دست داده اند.
• از سوی دیگر، روز یکشنبه، حداقل چهار نفر در جریان حمله هوایی نیروهای اشغالگر صهیونیستی اسرائیل به محوطه شفاخانه شهدای الاقصی در دیرالبلاح در مرکز غزه شهید شده اند. به گفته سازمان جهانی صحت، ١٧ فلسطینی نیز زخمی شدند. نیروهای اشغالگر صهیونیستی اسرائیل اعلام کرد که این حمله یک مرکز فرماندهی گروه مسلح جهاد اسلامی فلسطین را هدف قرار داده است.
• داکتران بدون مرز که با حروف فرانسوی MSF شناخته می شوند، گفته اند که تیم های این نهاد در شفاخانه الاقصی مجبور به توقف کار شده و در جستجوی آن قربانی های شدند که در نتیجه آتش باری بر بالای این مجتمع زیر آوار شدند.
• روزنامه گاردین به روز یکشنبه گزارش داد که اسرائیل طرحی را برای برچیدن نمایندگی های کمک و کار سازمان ملل برای آوارگان فلسطینی (UNRWA)، و انتقال کارمندان آن برای ارسال مواد غذایی در مقیاس بزرگ به غزه پیشنهاد کرده است.
• دفتر بنیامین نتانیاهو نخست وزیر اسرائیل اعلام کرد که وی به دلیل مریضی تحت عمل جراحی قرار گرفته است. دفتر نتانیاهو پس از عمل جراحی عصر یکشنبه در بیانیه ای اعلام کرد که عمل جراحی موفقیت آمیز» بود و نتانیاهو کاملا هوشیار و در شرایط خوبی به سر میبرد.
• روز دوشنبه نیروهای اشغالگر صهیونیستی اسرائیل از کشته شدن یک سرباز ٢٠ ساله به نام ناداو کوهن خبر داد و تعداد کشته شدگان را از ٧ اکتبر به ٦٠٠ نفر افزایش داد.
دیپلماسی و تنش های منطقه ای
• بر اساس گزارش خبرگزاری اکسیوس، آمریکا و اسرائیل اواخر روز دوشنبه یک نشست مجازی برای گفتگو در مورد رفح در جنوب غزه برگزار کردند.
• روز یکشنبه، ده ها هزار اسرائیلی برای برکناری دولت ناکام نتانیاهو و تلاش های بیشتر برای آزادی ده ها گروگان که هنوز در اسارت گروه حماس هستند، راهپیمایی کردند.
• نهادی بنام کهنه سربازان برای صلح می گوید لری هبرت، فرمانده ارشد نیروی هوایی آمریکا برای برجسته کردن وضعیت اسفناکی که کودکان غزه با آن مواجه هستند، اعتصاب غذای را آغاز خواهد کرد. این گروه می گوید آنها از سربازان سابق اند که از صلح حمایت می کنند و و مخالف اقدامات هستند که هزینه های جنگ و درگیری را برجسته می کنند.
ادامه خشونت های نیروهای اشغالگر اسرائیلی در کرانه باختری اشغالی
• در حمله روز یکشنبه نیروهای اشغالگر صهیونیستی اسرائیل به قریه های رشیده در شمال اریحا در کرانه باختری، چهار تن از ساکنین محل فلسطینی زخمی شدند.

# افغان اعلانات

### اعلان داوطلبی

موضوع اعلان داوطلبی: پروژه تهیه و خریداری دو نوع تیل مورد نیاز وزارت اطلاعات و فرهنگ
شماره داوطلبی: MOIC /G-1/NCB/1403
آمریت تدارکات وزارت اطلاعات و فرهنگ از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی: پروژه تهیه و خریداری دو نوع تیل، مقدار (٨٠٠٠٠) هشتاد هزار لیتر پطرول سوپر (A92) و مقدار (٦٠٠٠٠) شصت هزار لیتر دیزل (LO062) مورد نیاز وزارت اطلاعات و فرهنگ با شماره داوطلبی MOIC/G-1/NCB/1403 اشتراک نموده و سافت شرطنامه مربوط را از آمریت تدارکات - مدیریت عمومی تدارکات به دست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر مورخ ١٠-٢٠-١٤٠٣ هجری شمسی به وزارت اطلاعات و فرهنگ واقع چهارراهی ملک اصغر، ناحیه دوم، روبروی وزارت امور خارجه، آمریت تدارکات، مدیریت عمومی تدارکات منزل اول ارایه نمایند و آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.
تضمین آفر به صورت گرنتی بانک مبلغ( ٣٥٠٠٠٠) سه صد و پنجاه هزار افغانی بوده و جلسه آفرگشایی به تاریخ ١٠-٠٢-١٤٠٣ هجری شمسی ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر در آمریت تدارکات تدویر می گردد.
نوت: آنعده داوطلبان که پرسش داشته باشند می توانند ٧ روز قبل از ضرب الاجل تسلیمی آفر به آدرس متذکره مراجعه نمایند. داوطلبان محترم که سافت شرطنامه را از سایت اداره دانلود می نماید درخواستی خویش را جهت ثبت به آمریت تدارکات، وزارت اطلاعات و فرهنگ ارسال نمایند.

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم نوی برادران جمشیدی لمتید یک عراده موتر پلیت ٥٣٧١٧-٢ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای معروف فرزند رسول خان بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند.٢٦٣

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم عابد جمیل لمتید یک عراده موتر پلیت ٨٦٥٢٨- ٢ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای گلاب جان فرزند خان محمد بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ٢٤٥

***

### اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات

اسامی محترم خیر الله فرزند عبدالله ولدیت محمد نادر دارنده جواز نمبر ( ٣٦٨٣ ) مورخ ١٤٠٠/٨/١٥ متصدی رهنمای معاملات ( شیرزی ) واقع ( دوغ آباد ) ناحیه ( هفتم) شاروالی کابل خواهان فسخ جواز خویش گردیده که بعد از نشر اعلان رهنمای مذکور فاقد اعتبار قانونی بوده هر گاه ادارات دولتی و اشخاص انفرادی بالای موصوف ادعای حقوقی به ارتباط فعالیت جواز مذکور داشته باشند بعد از نشر اعلان الی مدت یک هفته به ریاست عمومی انسجام ، وزارت عدلیه اطلاع دهند.٢٤٢

***

### اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات

اسامی محترم عنایت الله فرزند صاحب خان ولدیت بابه مراد دارنده جواز نمبر ( ٣٦٦١) مورخ ١٤٠٠/٧/٢٩ متصدی رهنمای معاملات ( عنایت الله مرادی ) واقع ( شش دکان ٣١٥ ) ناحیه (١١ ) شاروالی کابل خواهان فسخ جواز خویش گردیده که بعد از نشر اعلان رهنمای مذکور فاقد اعتبار قانونی بوده هر گاه ادارات دولتی و اشخاص انفرادی بالای موصوف ادعای حقوقی به ارتباط فعالیت جواز مذکور داشته باشند بعد از نشر اعلان الی مدت یک هفته به ریاست عمومی انسجام ، وزارت عدلیه اطلاع دهند.٢٤٧

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم العرب احمد زاده لمتید یک عراده موتر پلیت ٩٥٥١٥-٤ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عبدالله فرزند گلبدین بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ٢٥٣

### اعلان داوطلبی

ریاست عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسۀ داوطلبی پروژه های ذیل اشتراک و آفر های سربستۀ خویش را مطابق شرایط شرطنامه از تاریخ نشر اعلان الی ضرب الاجل تسلیمی آفر ها ارایه نمایند:

| شماره | نام پروژه | نمبر تشخیصیه | مقدار تضمین آفر (گرنتی بانکی به افغانی) | ضرب الاجل تسلیمی آفر ها |
|---|---|---|---|---|
| ١ | پروژۀ تدارک ٣٨ قلم اجناس خیاط خانه، خبازی و خشکه شویی ضرورت ریاست خدمات | OCS/1403/G-80 | ١٥٠,٠٠٠ | ١٤٠٣/٢/١٠ ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر |
| ٢ | پروژۀ تدارک ٣٦ قلم اجناس بخش رنگمالی ضرورت ریاست تعمیرات، حفظ و مراقبت | OCS/1403/G-67 | ٤٠,٠٠٠ | ١٤٠٣/٢/١٠ ساعت ٢:٠٠ بعد از ظهر |

کاپی شرطنامۀ مربوط را در بدل مبلغ (٥٠٠) پنج صد افغانی از آدرس ذیل به دست آورده می توانند:
* ساختمان روابط عامه واقع دروازۀ ورودی ادارۀ امور.
به منظور حصول معلومات بیشتر به آدرس های ذیل به تماس شوند:
* شمارۀ دفتر: ٠٢٠٢١٤٢١٠٢
* شماره وتسپ شخص مسئول: ٠٧٤٨٥٩٥٠٦٠
آدرس بازگشایی آفرها: ارگ، جوار تعمیر اداری، ساختمان شورای امنیت اسبق، منزل دوم، سالون جلسات.

## بیش از ۱۵۰هزار تذکره در ولایت هلمند ...

برای نزدیک به ۲ هزار تن خدمات اصلاح تذکره کاغذی و برای ۱۰۰ تن دیگر خدمات ثبت وقایع حیاتی که شامل (۱۰ کارت تولد و ۹۰ پارچه فوتی) می‌گردد، را ارایه نماید. در گزارش آمده که براساس معلومات ریاست احصائیه و معلومات هلمند، در این ولایت دو مرکز توزیع تذکره الکترونیکی فعال بوده و به متقاضیان زن و مرد خدمات ارایه می‌نمایند. در مرکز اول توزیع تذکره الکترونیکی که در ناحیه اول شهر موقعیت دارد، افزون بر توزیع تذکره جدید خدمات پس از توزیع (تذکره مثنی) نیز ارایه می‌گردد. به بیان اداره ملی احصائیه و معلومات، این اداره به سطح کشور مراکز توزیع تذکره الکترونیکی را در نقاط دوردست و ولسوالی‌ها گسترش داده تا باشندگان این مناطق به آسانی بتوانند تذکره الکترونیکی خویش را دریافت نمایند.

**اسفندیار**

## جاپان له افغانستان سره ۶۰۰زره امریکایي ...

امریکایي ډالرو له مرستې خبر ورکړی. د اوچا ادارې پر ایکس‌پاڼه لیکل شوي چې دا مرستې به په افغانستان کې پر بشري ارتیاوو ولګول شي. جاپان چې د افغانستان یو سترمرستندویه هېواد بلل کېږي له دې مخکې یې هم د ملګرو ملتونو د مختلفو ادارو له لارې له اړمنو افغانانو سره ملیونونه ډالرو مرسته کړې ده. د افغانستان لپاره د خوړو نړیوال پروګرام د روان میلادي کال د فبرورۍ پر دویمه د جاپان د حکومت د ۱۳ نیم میلیونه ډالرو د مرستې خبری ورکړی و. له دغه پروګرام سره په تېرو درېیو کلونو کې د جاپان د مرستو اندازه ۷۳ ملیون ډالرو ته رسېدلې.

## پکتیا کې د ۲ رغنیزو پروژو چارې ...

کې به د ۴۷زره امریکایي ډالرو په ارزښت بیا یو کانال هم ورغول شي. د ګردېز ښاروال د دې پروژې پیل مراسمو کې وویل چې اوبولګولو یاد کانال د (۵۷۰) متره په اوږدوالي، یو متر پلنوالي او ۷۰ سانتي متر لوړوالي په لړلو سره جوړېږی. د مسوولانو په وینا، د یادو پروژو مالي لګښت او تخنیکي چارې د «یواین هبیټاټ» موسسې له‌خوا مخته وړل کېږي. د ګردېز ښاروالي مسوولان همداراز وایي، روان ۱۴۰۳ کال به په ګردېز ښار کې ۵۰ لویې او ورې پروژې پلې کړي چې تر ډېره به ورسره د ښاریانو ستونزې هم راکمې شي.

## روند واردات اموال با کیفیت از ...

در کابل دیدارکرد. در این دیدار دو طرف روی تسیهلات واردات مواد نفتی و گاز مایع به کشور بحث کردند. رییس اداره ملی ستندرد بر تقویت روابط دوجانبه تاکید کرد و گفت: خوشبختانه روند واردات اموال با کیفیت از ترکمنستان به کشور رو به بهبود است، امیدواریم مشکلات کوچک که در قسمت واردات اموال غیر معیاری باقی مانده نیز حل شود. سفیر ترکمنستان از فعالیت های اداره ملی ستندرد قدردانی کرد و از همکاری اداره ستندرد کشورش با امارت اسلامی افغانستان خبر داد. هر دو طرف بر توسعه همکاری ها تاکید کردند.

## د کوچني اختر د امنیت خوندیتوب ته ...

قطعاتو ته لېږل شوی او ټول امنیتي ارګانونه به په ګډه امنیتي پلان پلې کړي. «ټولو هېوادولو ته ډاډ ورکوو چې د ولس په همکارۍ او د پلان په پلي کولو سره به انشاالله بشپړ امنیت تامین شي. پولیس شپه او ورځ د هېوادولو په خدمت کې وي او هېوادول دې هم له امنیتي ځواکونو سره همکار پاتې شي.» پوځي شنونکي وایي، دښمن تل هڅه کوي چې په داسې ځانګړو ورځو کې خپلو موخو ته ورسېږي او دا داسې ورځې ښه فرصت ګڼي. دوی د کورنیو چارو وزارت له مسوولینو غواړي چې د اختر په ورځو کې خپلې امنیتي پوستې او ګزمې زیاتې کړي. د پوځي چارو شنونکي عزیزالله ستانکزی په دې اړه وایي: «د کورنیو چارو وزارت چې په دې برخه کې مسوولیت لري، باید هوښیارانه عمل وکړي او د اختر په ورځو کې امنیتي پوستې زیاتې کړي او کشفي ارګانونه هم خپله دنده تر سره کړي او د استخباراتو ریاست باید هم خپل اساسي دنده تر سره کړي، تر څو خلک زیان ونه ویني.» یو شمېر هېوادوال هم له حکومت څخه غواړي چې د اختر په ورځو کې بشپړ چمتو اوسي او خپل امنیتي تدابیر ښه کړي؛ تر څو د امنیتي پېښو مخنیوی وشي او خلک پرته له کومې وېرې اختر ولمانځي. د کابل او ننګرهار اوسېدونکي محبوب الله موحد او عبدالمنصور نظري وايي، اسلامي امارت باید د هغو ځایونو امنیت ونیسي چې هلته د خلکو ګڼه ګونه زیات وي. «له اسلامي امارت څخه مو غوښتنه ده چې د په دغو ورځو کې امنیت ته جدي پام وکړي او په ځانګړي ډول په هغو ځایونو کې چې د خلکو ګڼه ګونه زیاته وي او له خلکو هم غوښتنه کوو چې په دې برخه کې له امنیتي ځواکونو سره همکاري وکړي.» «له ټولو امنیتي ارګانونو څخه مو غوښتنه ده چې په دې شپو او ورځو کې ښه امنیت ونیسي تر څو خلک د امن په فضاء کې اختر تېر کړي.» د یادولو وړ ده چې په تېر اختر کې د امنیت ټینګښت په برخه کې د امنیتي ځواکونو هڅې ستایل شوې وې.

## تېر کال څه باندې ۱۰۰ زره ...

سیلانیانو له دلې یې ۱۵۰۰ بهرني وګړي دي چې د دغه ولایت له تاریخي او تفریحي سیمو څخه یې لیدنه کړې ده. مولوي رائد زیاته کړه، چې هوډ لري په روان کال کې د ګرځندوی د صنعت د ودې او په دغه ولایت کې د زیاتو کورنیو او بهرنیو سیلانیانو د راجلبولو په خاطر د سیلانیانو لپاره لا زیاتې آسانتیاوې برابرې کړي چې لومړي قدم کې به په بند امیر پارک کې د غوره آسانتیاوو لرونکی یو هوټل جوړ کړي.

بامیان د ګڼو طبیعي او تاریخي ځایونو په لرلو سره هر کال د زرګونو کورنیو او بهرنیو سیلانیانو د ورتګ شاهد وي.

## علاقه‌مندی باشندگان غزنی به کاشت ...

نهال‌فروش، می‌افزاید که در سال روان باشندگان ولسوالی‌های غزنی و ولایت‌های هم‌جوار آن، علاقه‌ی بیش‌تری به ایجاد باغ‌ها و کاشت نهال پیدا کرده اند. «امسال هر کس را ببینی، ۲۰۰ یا ۳۰۰ اصله نهال برای غرس‌کردن در خانه‌های شان، کنار سرک و مکتب‌ها می‌برند. هرسال ما یک موتر ناجو می‌آوردیم؛ اما امسال چهارم موتر ناجو آوردیم؛ یک اصله نهال هم نمانده است.»

در سوی دیگر، شماری از باشندگان غزنی، می‌گویند که بارش باران در زمستان و روزهای پسین، خوشبینی‌ها را برای داشتن سالی پربار در میان باشندگان این ولایت به میان آورده است. داوود، باشنده‌ی غزنی، می‌گوید: «این جا برای خرید درخت آمده‌ام. می‌خواهم از این جا چند درخت انگور و بادام بخرم.» روزی‌خان، مسئول یک شرکت زراعتی، می‌گوید که کشاورزان و باغ‌داران در غزنی در سال‌های گذشته به دلیل خشک‌سالی به کاشت نهال علاقه‌ی کم‌تری نشان می‌دادند؛ اما در سال روان علاقه‌ی آنان بیش‌تر شده است. او می‌افزاید: «در این روزها که برف و باران بیش‌تر شده؛ امیدواری زیاد برای کشاورزان پیدا شده است. کشاورزان به خاطر بارندگی‌های که شده است درخواست نهال بیش‌تر را می‌کنند.» مسئولان در ریاست زراعت و مالداری غزنی، نیز از باشندگان این ولایت می‌خواهند که برای سرسبزشدن شهر و داشتن محیط سالم نهال خریداری و غرس کنند. محمدادریس حنیف، رییس زراعت، آبیاری و مالداری غزنی، می‌گوید: «برای سرسبزی کشور ما باید دست‌به‌دست شویم. این وطن به غیر از دست خود ما به دست دیگران جور نمی‌شود. خواست ما این است که نهال بکارند؛ نهال زیاد است ما در این بخش هم‌کاری می‌کنیم.» کارشناسان امور کشاورزی اما می‌گویند که حکومت سرپرست و نهادهای امدادرسان برای تشویق کشاورزان و باغ‌داران به کاشت نهال، بایستی برنامه‌های آموزشی را در این بخش برگزار کنند و داروهای نباتی را در اختیار آنان قرار دهند.

این در حالی است که ریاست زراعت، آبیاری و مالداری غزنی و شهرداری این ولایت چند روز پیش، کارزار نهال‌شانی راه‌اندازی و بیش از یک میلیون و ۵۰۰ هزار اصله نهال میوه‌دار و بی‌میوه را در شهر غزنی، مرکز این ولایت و ولسوالی‌های آن غرس کردند

## له شپږ کلن خنډ وروسته ۱۵ کلن ...

هلک د لښکرګاه ښار اړوند شپږمې ناحیه کې د کشفي عملیاتو پر بنسټ ازاد کړی دی. د نوموړي په وینا، دغه هلک شاوخوا شپږ کاله وړاندې انسان تښتونکو برمته کړی و چې اوس بېرته خپلې کورنۍ سره یوځای شوی دی. حقاني زیاته کړه چې انسان تښتونکي د یادو عملیاتو پرمهال له سیمې تښتېدلي، خو په وینا یې، د امنیتي مسوولانو له لوري یې د نیونې هڅې روانې دي. د یاد هلک کورنۍ د دغه ولایت له امنیتي مسئولانو مننه وکړه چې نوموړی یې د انسان تښتونکو له منګولو ازاد کړی دی. د هلمند د امنیې قومنداني ویاند عزت‌الله حقاني د یاد ولایت له اوسېدونکو غوښتنه وکړه د هر ډول مشکوکو کړنو د لیدو پرمهال امنیتي او کشفي ارګانونه خبر کړي، څو د ناوړه پېښو مخه ونیول شي.

# تېرو درېیو میاشتو کې ۱۱۰۰ هیوادوال د تنفسي ناروغیو له امله مړه شوي

د روغتیا نړیوال سازمان وایي، په افغانستان کې په تېرو درېیو میاشتو کې ۱۱۰۰ کسان د تنفسي ناروغیو له کبله مړه شوي دي. یاد سازمان په افغانستان کې د حادو تنفسي ناروغیو له کبله د پېښو او مړینو د زیاتوالي په اړه اندېښنه ښودلې ده. د دغه سازمان په نوي راپور کې ویل شوي چې په افغانستان کې د روان میلادي کال په لومړیو درېیو میاشتو کې دیادې ناروغۍ له کبله د مړو شمېر ۱۱۰۰ تنو ته رسېدلی چې ۸۸ سلنه قربانیان یې ماشومان دي. د روغتیا نړیوال سازمان راپور ښیي چې د جنورۍ له پیله د مارچ تر پایه د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې د تنفسي ناروغیو څه باندې ۴۷۰ زره پېښې ثبت شوې دي. د راپور له مخې، ۲۹۸ زره پېښې له پنځو کلونو کم‌عمره ماشومانو او ښځو پورې تړاو لري. د یادونې ده چې په دې اړه د اسلامي امارت د عامې روغتیا وزارت تر اوسه کومه تبصره نه ده کړې.

## کمیسیون تدارکات ملی قرارداد ...

به شکل همه جانبه بررسی و گزارش خویش را به جلسه بعدی کمیسیون تدارکات ملی ارایه نماید. در پروژه های منظور شده تکمیل کار های باقی مانده بازسازی اساسی شاهراه کابل – قندهار، بازسازی بخش های تخریب شده سرک کنر – نورستان، پروژه های مربوط به شرکت برشنا در ولایات مختلف، پروژه تهیه لوازم مورد نیاز قطعات مرکزی و جزوتام‌های وزارت دفاع ملی و شماری دیگر از پروژه ها شامل می باشد که با عملی شدن پروژه های یاد شده، برای صدها شهروند فرصت های کاری فراهم خواهند شد.

## له خپلواکۍ وروسته زموږ ...

لپاره خپلې هڅې ونه سپموي. مثلاً د ماهرو او تکړه دیني شیوخو له خوا د تخصص لنډمهالې دورې، د ښځینه وو لپاره ټول دیني ضروري نصاب ټاکل، خو د رخصتۍ په حذفولو او په لږه موده کې پای ته رسول. همداسې په روغتیایي برخه کې او نور ټول ضروري فنون او مسلکونه باید ښه په جدي توګه تعقیب شي، تر څو موږ د پرمختګ پر لاره داسې ګرندي ګامونه واخلو چې په لږه موده کې هم د خپلو دیني معلوماتو او معارفو په باب ښه پیاوړي او ماهر نامتو علماء ولرو هم ښه ماهر طبیبان، انجنیران، نظامیان او په هره برخه کې بې ساري مخترعین. راځئ د خپلې دغې نیمګړتیا د پوره کولو لپاره په اخلاص یو بل ته لاسونه ورکړو.

## اسلامي امارت د روسیې تازه اقدام ...

کوي چې له تور لیست څخه د اسلامي امارت د ځینو مشرانو نومونه لېرې کړي. د دغه راپور په یوه څنډه کې راغلي: «دغه موضوع د بهرنیو چارو وزارت، عدلیې وزارت، او ځینو نورو تخصصي ادارو لخوا تر څېړنې لاندې ده. د یادې موضوع په اړه به وروستۍ پرېکړه د هېواد لوړپوړي سیاسي مشران کوي.» تاس خبري اژانس ته د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړي استازي ضمیر کابلوف ویلي، روسیه له اسلامي امارت سره د ترهګرۍ په ځپلو کې همکاري کوي، خو اسلامي امارت چارواکي وایي، د نورو هېوادونو همکارۍ ته اړتیا نه‌لري. مجاهد وایي: «موږ د نورو هېوادونو همکاریو ته اړتیا نه‌لرو. د هر ډول ګواښ پر وړاندې په کافي اندازه امنیتي ځواکونه لرو او همدارنګه د ترهګرو ډلو په ځپلو او له منځه وړلو کې هم پوره تجربه لرو.» د روسیې له خوا له تور لیست څخه د اسلامي امارت د ځینو مشرانو د نومونوایستلو په تړاو د چارو شنونکي وایي، داسې ښکاري چې د اسلامي امارت او روسیې ترمنځ اړیکې ښې شوې دي. د سیاسي چارو شنونکي ډاکټر معین ګل څکمني په دې اړه کلید ته وویل: «دا چې روسیه اوس‌مهال له پنځوسو هېوادونو یا که وواېو له ټولې نړۍ سره په جنګ ده، نو غواړي چې له دې لارې امریکا ته یو پیغام ورکړي چې دوی له هغه چا سره اړیکې جوړوي چې دوی یې مات کړي دي او بل روسیه غواړي د یو شمېر مسلمانو هېوادونو زړونه هم وګټي.» تاس خبري اژانس همدارنګه لیکلي چې روسیې د اسلامي امارت چارواکي د کازان ناستې ته هم وربللې چې ټاکل شوې د روان کال د مې میاشتې پر څلورلسمه نېټه ترسره شي.

## خلکو ته خدمت کول د اسلامي ...

دیني عالمانو او مخورو ته د ښه راغلاست ترڅنګ، په بېلابېلو برخو کې خلکو ته خدمت د اسلامي امارت دنده وبلله او ویې ویل، د مختلفو کچو مسوولین د خلکو د امنیت ټینګښت، هوساینې او ارامۍ لپاره خپله ټوله هڅه کوي. نوموړي زیاته کړه، چې اسلامي امارت هڅه کوي، د خپلو امکاناتو په چوکاټ کې په بېلابېلو برخو کې د خلکو ستونزې ښه او حل کړي.

## چکدم‌های ساخته شده در شماری ...

و دایکندی) به‌وزارت زراعت، آب‌یاری و مال‌داری سپرده شده بود که کار ساخت آن از سوی این وزارت تکمیل شده و در حال حاضر آب در چکدم‌های ساخته شده ذخیر گردیده‌است. به گفته وزارت زراعت؛ این چکدم‌ها به‌هدف کاهش خسارات خشک‌سالی، جلوگیری از سیلاب‌ها، مدیریت آب‌های موسومی، بلند بردن سطح آب‌های زیرزمینی، فرسایش خاک و مدیریت مواد رسوبی آن ساحه ساخته شده‌اند.

## پاسپورت ریاست نږدې ...

وایي: د ورځې د لس زرو په شاوخوا کې په هېوادوالو پاسپورټونه وېشل کېږي. د نوموړي په وینا: موږ په تېره یو نیم میاشت کې څه کم دوه ملیارده افغانۍ عواید راټول کړي او درې لکه شپږویشت زره پاسپورټونه وېشل شوي. پتمن وویل: هغه هېوادوال چې قانوني مراحل یې طی کړي پاسپورټ یې حق دی ورکوو یې، هغه که نارینه وي او که ښځینه وي. نوموړی وایي: موږ سره پاسپورټونه شته دي او د هېوادوالو د غوښتنې په اساس یې په دوی باندې وېشل کېږي. هغه زیاته کړه: د نویو پاسپورټونو د پلان لپاره موږ کار کړی د اړوند کمپنۍ سره قرارداد لرو که اړتیاه شوه ترې راوغواړو به یې او هېوادوالو ته به یې د دوی د اړتیاوو په اساس وېشل کېږي.

ډېری هېوادوالو وایي چې د پاسپورټونو یوازې په پلازمېنې کابل کې وېشل کېږي؛ خو د پاسپورټ ریاست ویاند نورالله پتمن یې نظرونه ردوي او وایي: د هېواد په ټولو ولایتونو کې پاسپورټونه وېشل کېږي او دا لړۍ په نورمال ډول روانه ده.

د پتمن په وینا: مونږ هڅه کړې ده او پخوا په پرتله مو د پاسپورټونو په وېش کې ډېرې اسانتیاوې رامنځته کړې ده، بانکي سیستم مو راوړی داخل د ریاست ته، د کاغذي تذکیرو د تایید څانګه مو راوړې، ورځینۍ ظرفیت مو لوړ کړی، ټولو ولایتونو کې د وېش لړۍ خلاصه شوې، بشري ځواک زیات شوی، اولیه خدمات مو برابر کړي او ډېری شعبو ضروریات مو اکمال کړي.

د کابل اوسېدونکی بابرزي چې تازه یې پاسپورټ ترلاسه کړی دی، وایي: فکر مې نه کاوه چې زه به هم پاسپورټ واخلم، ځکه چې ډېری خلکو یې د ترلاسه کولو لپاره فورمې ډکې کړې وې چې د زه هم د هغې ډلې نه وم، نو کله چې مې و فورمې وخت پوره شوو، د پاسپورټ ټول مراحل مې د یو ساعت په موده کې خلاص شول.

د نوموړي په وینا: نظر تېر وخت ته اوس د پاسپورټ ریاست په انګړ کې د هېوادوالو ستونزې حل کېږي، پخوا به د پیسو د تحویل لپاره د یاد ریاست نه د باندې خلک وتل، ولې اوس دا اسانیتا د ریاست دننه شته ده چې پیسې پکې تحویل کړو، دې او دې ته ورته اسانتیاووې اوس په یاد ریاست کې شته دي.

**زیارمل هوتک**

## وردګو کې د «مجاهد» په نوم ملي ...

قلمه زیات لرغوني توکي راوړل شوي دي. نوموړی وایي، همدا تېره اوونۍ هم د کابل، پروان او میدان‌وردګ ولایتونو پنځو اوسېدونکو پنځه قلمه لرغوني توکي چې د سپینو زرو ښکران، د زنګ‌وهلو اله، د غوړیو جوشولو کټو، شمعه دانۍ او د مېسو قاب چې سلګونه کاله تاریخي مخینې لري ملي موزیم ته وسپارل.

Shariat
Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Thursday 04 April 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 422

کورنیو چارو وزارت:

# موټر چلوونکي دې ترافیکي اصول مراعت کړي



د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله په حکم د هېواد په لویو لارو کې د ترافیکي پېښو د مخنیوي په موخه د کورنیو چارو، عدلیې، ټولګټو او ټرانسپورټ وزارتونو او د ټرانسپورټي شرکتونو د استازو ترمنځ شریکه غونډه ترسره شوه.

په دغه غونډه کې د کابینې پر جوړه شوې طرحه بحث وشو او د ترافیکي پېښو د مخنیوي په موخه د هر وزارت او اړوندو ادارو د مسوولیتونه وټاکل شول.

په دې غونډه کې د کورنیو چارو وزارت د امنیتي چارو ستر مرستیال ستر پاسوال مولوي ابراهیم صدر د ټرانسپورټي شرکتونو د وړاندیزونو د اورېدلو ترڅنګ په لویو لارو کې ترافیکي اصولو د مراعتولو په هکله خبرې وکړې او ویې ویل چې اسلامي امارت د هېوادوالو مال او ځان ساتنه خپل لومړیتوب ګڼي.

مولوي صدر زیاته کړه، چې ټول ټرانسپورټي شرکتونه او موټر چلوونکي مکلف دي چې د ترافیکي پېښو د مخنیوي قانون او کړنلارو ته پام وکړي.

هېره دې نه وي چې د هېواد په لویو لارو کې د ترافیکي پېښو د مخنیوي په موخه د امیر المؤمنین حفظه الله له لوري ځانګړی فرمان هم صادر شوی دی.

## رویدادهای خارجی

### سوریه کې د ایران یو لوړپوړی قوماندان وژل شوی

ایراني چارواکو ویلي چې په سوریه کې یې پر کونسلګرۍ د اسراییلو په برید کې لوړپوړی قوماندان وژل شوی دی.د ایران د اسلامي انقلابي ګارد قول اردو ویلي چې په سوریه کې د ایران پر کونسلګرۍ برید کې د دوی اووه غړي وژل شوي.یادې سرچینې په یوه خبرپاڼه کې ویلي، په وژل شویو کې قوماندان محمد رضا زاهدي او د هغه مرستیال جنرال محمد هادي حاجي رحیمي هم شامل دي.د سوریې دولتي رسنیو ویلي، د برید شک پر اسراییلو کېږي چې دمشق کې یې د ایران کونسلګرۍ ودانۍ ویجاړه کړې ده.بلخوا د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند ویلي، ایران حق لري چې په دمشق کې د دغه برید تر شا د برید ګرو پرضد متقابل عمل وکړي.دا په سوریه کې په تېرو څه کمو ۲۴ ساعتونو کې د اسراییلو دویم هوایي برید دی.دوه ورځې وړاندې هم اسرائیلو په سوریه کې خونړی برید وکړ چې له ۴۰ ډېر کسان پکې ووژل شول.

### حملات موشکی حزب‌الله به مواضع رژیم صهیونیستی

حزب‌الله لبنان از حمله موشکی به دو موضع نظامی ارتش رژیم صهیونیستی از جمله یک مقر فرماندهی این رژیم خبر داد. مقاومت اسلامی لبنان صبح دیروز از ۲ عملیات ضد مواضع دشمن اشغالگر اسرائیل خبر داد.در بیانیه اول حزب‌الله درباره این عملیات‌ها آمده است که رزمندگان مقاومت اسلامی در راستای حمایت از مردم استوار فلسطین در نوار غزه و نیز مقاومت شجاع و شریف آن، ساعت ۸:۵۰ دیروز چهارشنبه ۳ آپریل ۲۰۲٤ موضع نظامی الراهب و محل تجمع نظامیان دشمن صهیونیستی در اطراف آن را با سلاح موشکی هدف قرار دادند.حزب‌الله در بیانیه دوم خود هم اعلام کرد که رزمندگان آن ساعت ۹:۵۰ صبح دیروز یک موضع فرماندهی سری جدید ارتش اشغالگر را پشت پایگاه نظامی «برانیت» با سلاح موشکی هدف قرار دادند.از سوی دیگر خبرنگار الجزیره گزارش داد که ٦ راکت به سمت مراکز نظامی اسرائیلی در الجلیل الاعلی نزدیک شهرک عیتا الشعب واقع در جنوب لبنان شلیک شده است.

### رسانه های اسرائیلی؛ بریک میدان هوایی در جنوب اسرائیل حمله شده است

رسانه های عبری گزارش دادند: یک میدان هوایی نظامی درمنطقه صحرایی نقب از مناطق اشغالی در جنوب اسرائیل با هواپیمای بدون سرنشین هدف قرار گرفته است. شبکه ۱۴تلویزیون اسرائیل این خبررا منتشرکرده است، در پی این حمله نیروهای امدادی از ارتش رژیم اسرائیل به محل اعزام شده اند.منابع عبری دقایقی بعد گزارش دادند که این حمله با استفاده از یک بال هواپیمای بدون سرنشین تهاجمی انجام شده که در نزدیکی میدان هوایی رامون منفجر شده و موجب توقف مانور نظامی در حال برگزاری در آن شده است.

### تایوان کې شدیدې زلزلې درانه زیانونه اړولي

د تایوان ټاپو یوې داسې شدیدې زلزلې لړزولی، چې په تیرو ۲۵ کلونو کې یې ساری نه درلود او خلکو ته یې ۲۵ کاله مخکې دغې ته ورته طبیعي ناورین ور په یاد کړ.زلزله سهار مهال د تایوان له ختیځ ساحل څخه یو څو کیلومتره لیرې رامنځته شوه. د هوا پیژندنې ادارې د هوآلین ښار ته نیژدې د دغه ټاپو له سویل ختیځ سره د ۱۵ اعشاریه ۵ کیلومتره په ژوروالي کې د ریشتر په مقیاس ۷ اعشاریه ۲ درجې ثبت کړې ده.د دغې زلزلې په نتیجه کی ډیری کورونه، پلونه، د اورګاډو پټلۍ، لویې لارې او عامه ودانۍ ویجاړې شوي او همدارنګه مهمې زیربناوې هم زیانمنې شوي دي. دغه زلزله په ټول تایوان کې احساس شوې ده. په خاص ډول د هوآلین په ختیځ ساحل کی، چیرې چې ډیری ودانۍ د سختې ځمکې ښوېدنې له امله زیانمنې شوي دي.د عینې شاهدانو په حواله د تایوان د پلازمینې تایپه پر شاوخوا سیمو کې هم په ښکاره ډول دغه زلزله احساس شوې ده. ویل کیږي چې د تایوان په ډیرو ښارونو کې عامه ریلونه د څه د پاسه ۲۳ میلیونو انسانانو له پاره په ټپه دریدلي دي.

توجه !
ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!

### د کوچني اختر د امنیت خوندیتوب ته پوره چمتووالی نیول شوی



کورنیو چارو وزارت وايي چې د کوچني اختر د امنیت خوندیتوب لپاره یې پلان برابر کړی چې په پلي کېدو سره به یې په ټول هېواد کې بشپړ امنیتي تدابیر ونیول شي.د کورنیو چارو وزارت ویاند عبدالمتین قانع په دې اړه کلید راډیو ته وویل، هېوادوال دې ډاډه وي چې د تېر په څېر به سږکال هم د امنیتي پلان له مخې په هېواد کې امنیت تامین وي.نوموړي زیاته کړه، د وزارت له خوا یو منظم پلان چمتو او ټولو ... ۷مخ

### تاکید بر گسترش فعالیت‌های ترانزیتی و تجاری میان افغانستان و ترکمنستان

جنرال قنسول ترکمنستان با شیخ مولانا اسلام جار والی هرات، روی گسترش فعالیت‌های ترانزیتی واقتصادی بین دوکشور دیدار و گفت‌گو کرد.»باتور یولوف« جنرال قنسول ترکمنستان در هرات، در این دیدار به والی هرات وعده سپرد تا سهولت های لازم جهت افزایش فعالیت‌های ترانزیتی و صاداراتی از طرف کشورش فراهم شود. از سوی دیگر شیخ مولانا اسلام جار از افزایش فعالیت‌های ترانزیتی بین دو کشور استقبال کرد و از همکاری اداره محلی در این زمینه اطمینان داد. هم اکنون میزان پذیرش موتر های ترانزیتی-تجاری بین ترکمنستان و افغانستان روزانه ۷۰ موتر است و قرار است این رقم به روزانه ۱۵۰ موتر افزایش یابد.

### تېر کال څه باندې ۱۰۰ زره سیلانیانو له بامیان ولایت څخه لیدنه کړې



د بامیانو د اطلاعاتو او کلتور ریاست مسوولین وايي چې تېر کال د دغه ولایت له تاریخي او تفریحي سیمو څه باندې ۱۰۰ زره کورنیو او بهرنیو سیلانیانو لیدنه کړې ده.د دغه ولایت د اطلاعاتو او کلتور رییس مولوي صفی‌الله رائد له باختر آژانس سره د خبرو پرمهال وویل چې د دغو ۱۰۰ زره ... ۷مخ

### ځینو ولایتونو کې ۱۳۸ کوچني بندونه جوړ شوي

د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت ویلي، چې په ۱۰ ولایتونو کې د ۴۱۴ میلیونه افغانیو په ارزښت ۱۳۸ د اوبو ذخیره کولو واړه بندونه جوړ او ګټې اخیستنې ته سپارل شوي دي. د یاد وزارت د معلوماتو له مخې دغه بندونه په اروزګان، کندهار، تخار، جوزجان، بدخشان، ننګرهار، لغمان، فاریاب، بامیان او دایکندي ولایتونو کې جوړ شوي، چې په وروستیو ورښتونو کې له اوبو ډک شوي هم دي. دې وزارت زیاته کړې، چې دغه واړه بندونه د وچکالۍ زیانونو کمولو، سېلابونو مخنیوي، د موسمي اوبو مدیریت، د ځمکې لاندې اوبو زیرمو پیاوړتیا په موخه جوړ شوي دي.

### علاقه‌مندی باشندگان غزنی به کاشت نهال بیش‌تر شده است



شماری از نهال‌فروشان در غزنی، می‌گویند که با آمدن بهار علاقه‌مندی باشندگان این ولایت به کاشت نهال بیش‌تر شده و بازارهای خرید و فروش نهال نیز رونق گرفته است.فیروز، نهال‌فروش، می‌گوید که به دلیل بارش باران در زمستان و روزهای پسین، میزان فروش نهال در مقایسه با سال گذشته چهار برابر افزایش یافته است. «امسال فروش نهال نسبت به سال گذشته چهار برابر بیش‌تر است. دو سال خشک‌سالی بود. نهال‌های دوساله، سه‌ساله شد؛ اما فروخته نشدند. امسال هیچ پیدا نمی‌شود هر قدر از یحیاخیل و منطقه‌های دیگر هم می‌آوریم، کافی نیست.»این ... ص۷

### هلمند : له ۶ کلن ځنډ وروسته یو ځوان له اختطاف چیانو ژغورل شوی



د هلمند امنیتي مسوولان وايي چې دغه ولایت کې یې هغه ۱۵کلن ځوان د انسان تښتوونکو له منګولو ازاد کړی،چې شپږ کاله وړاندې یې برمته کړی و.د یاد ولایت د امنیې قوماندانۍ ویاند عزت‌الله حقاني وايي، د امنیې قوماندانۍ اړوند له ترهګرۍ سره د مبارزې مدیریت منسوبینو دغه۱۵کلن ... ۷مخ

### کندهار کې ۱۴،۵ کیلو ګرامه نشه یي توکي کشف شوي

د کندهار د امنیې قوماندانۍ مسوولینو په دغه ولایت کې ۱۴.۵ کیلو ګرامه نشه یي توکي ( ښېښه او هیروئین) کشف او نیولي دي.د کندهار د امنیې قوماندانۍ ویاند مولوي اسد الله جمشید د باختر آژانس خبریال ته وویل، چې د یاد ولایت په ډنډ ولسوالۍ کې یو تن له ۱۲.۵ کیلو ګرامه ښیښه، ۲ کیلو ګرامه هیروئین او ۱۱۲۰ ټابلیټ کا ګولیو سره یوځای نیول شوی دی.هېره دې نه وي، نیول شوی کس په خپل جرم اعتراف کړی چې دوسیه به یې له څېړنو وروسته عدلي او قضایي ارګانونو ته وسپارل شي.